

يَا رَبِّ، لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلَالِ وَجْهِكَ، وَعَظِيمِ سُلْطَانِكَ

# د قيامت ۱۰۰ نښې

ليکوال: مولوي زاهد الله عزام عَفَا اللّٰهُ عَنْهُ (الموسوي الحنفي)

د قيامت ۱۰۰ نښې
ليکوال: مولوي زاهد الله عزام

يَا رَبِّ ، لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلاَلِ وَجْهِكَ ، وَعَظِيمِ سُلْطَانِكَ

# د قيامت سل نبني

**ليكوال** : مولوي زاهدالله عزام عَفَاالله عَنْهُ ( الموسوي الحنفي )

**نظر ثاني** : شيخ القرآن والحديث عبدالجبار اللوجراوي ( حفظه الله )

يَا رَبِّ ، لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلاَلِ وَجْهِكَ ، وَعَظِيمِ سُلْطَانِكَ

# د قيامت سل نښې


**ليکوال** : مولوي زاهدالله عزام عَفَااللهُ عَنْهُ ( الموسوي الحنفي )

**نظر ثاني** : شيخ القرآن والحديث عبدالجبار اللوجراوي ( حفظه الله )

# د قيامت سل نښې

**ليکوال**: مولوي زاهدالله عزام عَفَا اللّٰهُ عَنْهُ ( الموسوي الحنفي )

# کتاب پیژندنه

**دکتاب نوم** : د قیامت سل نښې

**لیکوال** : مولوي زاهدالله عزام عَفَاالله عَنْهُ ( الموسوي الحنفي )

**دوهم خل کتنه:** شیخ القرآن والحدیث عبدالجبار اللوجراوي ( حفظه الله )

**کمپوز** : په خپله لیکوال ( عزام )

**ډیزاین** : په خپله لیکوال ( عزام )

**د چاپ شمیر** : ۱۱۰۰

**د چاپ کال** : ۱۴۰۱ هـ ش

اړیکه : ۰۷۶۴۶۰۶۳۵۴

**د چاپ حقوق له لیکوال سره خوندي دي**

**د لاسته راوړلو ځایونه :**

نزاکت کتاب پلورنځی ، کابل ارزان قیمت عزیزي بانک شاته

بدلون کتاب پلورنځی ، ارزان قیمت پوسته خانې ته مخامخ

علمي کتاب پلورنځی ، ارزان قیمت اتم بلاک

ارمان کتاب پلورنځی ، ارزان قیمت ماموریت چاراهي پامیر نوین ته مخامخ

اکسوس کتاب پلورنځي ، کابل

سردارخان و پسران کتاب پلورنځی ، کابل جاده میوند

قاري عبدالرشید کتاب پلورنځی ، پروان غوربند باغ افغان درې بازار

## ډالی

**اول** : ګران پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) ته ، چې مونږ بې
د قیامت له حالاتو څخه خبر کړي یو ، الله ( جل جلاله ) دې
دده شفاعت راته نصیب کړي .

**دوهم** : ټولو ملګرو او ټولو مسلمانانو ته .

عزام عَفَاالله عَنهُ

# د ليكوال خبرې

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي قال في كتابه : فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا السَّـاعَةَ أَنْ تَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً فَقَدْ جَاءَ أَشْـرَاطُهَا فَأَنَّى لَهُمْ إِذَا جَاءَتْهُمْ ذِكْرَاهُمْ (١٨ ، محمد) والحمد لله الذي امتن على عباده المؤمنين ببعثة الرسول الصادق الأمين، فأخرجهم به من ظلمات الكفر والجهل إلى نور الإيمان والعلم واليقين، وأخبرهم على لسـانه بما كان وما يكون إلى يوم الدين، وأخبرهم عن الدار الآخرة بأكمل إيضـاح وأعظم تبيين، فمن آمن به وبما جاء به؛ فهو من المفلحين، ومن كان في ريب مما صح عنه؛ فهو من الخاسرين.

أحمده سـبحانه حمد أوليائه المتقين، وأشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شـريك له الملك الحق المبين، وأشـهد أن محمدا عبده ورسـوله الذي ترك أمته على المنهج الواضـح المسـتبين، صـلى الله عليه وعلى آله وأصـحابه ومن تبعهم بإحسـان إلى يوم الدين وسلم تسليما كثيرا.

أما بعد :أردت أن أجمع الأحاديث الواردة عن النبي صـلى الله عليه وسـلم في الفتن والملاحم وأشراط الساعة وغير ذلك من الأمور التي أخبر النبي صلى الله عليه وسلم أنها سـتكون بعده إلى قيام السـاعة، فالرجاء عموم النفع بذلك.والله أسـأل أن يجعله خالصا لوجهه الكريم، وزلفى لديه في جنات النعيم.

محترمو لوستونكو : لكه څرنګه چې قيامت له شک پرته راتلونکی دی نو همداسې مخکې له قيامت راتلو څخه د قيامت نښې راتلونکې دي چې په مقدسو احاديثو سره ثابتې دي نو له همدې امله دا کتاب د قيامت څخه د مخکې راتلونکو نښـو لپاره انتخاب شو .

د ډېر وخت راهيسې مې دا هيله وه چې بايد د قيامت د نښو په باره کې څه ليکنه وکړم خو دا دی اوس هغه وخت را ورسـيد او الله ( جل جلاله ) توفيق راکړ چې ليکنه او تحقيق وکړم . له الله ( جل جلاله ) څخه غوښـتنه کوم چې د قيامت څخه

مخکې کومې فتنې چې واقع کيږي خصوصا د دجال له لويې فتنې څخه ما او ټول مسلمانان ددې کتاب په برکت وساتي .

لـــه الله ( جل جلاله ) څخه غوښـــتنه کوم چې دا کتاب راته قبول کړي . ماته د مغفرت ســـبب وګرځي او زما په شمول د ټولو مسلمانانو ته د فتنو څخه د نجات سبب وګرځي .

ددې کتاب په تصـــحيح کې ( د کتاب متن ، جلد ، صـــفحه ، د حديث متن ، د حديث نمبر ، د کتابونو نومونه .... ) ما ډير کوشـــش کړی دی خو بيا هم انسان ضعيف دی او بيا زه د الله ( جل جلاله ) په ټول مخلوق کې ډير زيات ضعيف يم ؛ نو که چيرته ســـهوه او غلطي را څخه شوې وي ؛ د الله ( جل جلاله ) څخه راته ببښنه وغواړئ او د مغفرت دُعا راته وکړئ ؛ ستاسو به په ما باندې لوی احسان وي

په ټوله اسلامي مينه او درنښت

زاهـــدالله عـــزام عَفَااللهُ عَنْـــهُ

و من الله التوفيق .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ

## د کتاب په اړه د شیخ القران والحدیث علامه عبدالجبار اللوجراوي صیب خبرې:

حامداً و مصلیاً ، اما بعد : دغه کتاب چې د قیامت په علامو کې لیکل شوی دی بهترین او جامع کتاب دی . او ورسره په صحیحو احادیثو مزین شوی دی ، هیله ده چې امت مسلمه ورڅخه ګټه واخلي ، د مؤلف لپاره دې الله تعالی سبب د اجر دارَین وګرځوي .

په احترام

عبدالجبار عفی عنه

۱۴۰۰ / ۱ /۲۹

# فهرست


د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) پیغمبر کیدل ....................1
د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) مرګ ............................1
دروغ زیاتیدل .............................2
دوکه زیاتیدل .............................2
شپانه د قوم مشران کیدل .............................3
له قرآنکریم څخه پرته د نورو خبرو عملي کول ........................3
لوړ لوړ کورونه ( بلند منزل ) جوړول ............................5
د ښو خلکو سپکاوی کول .............................5
په ناحقه وینې تویدل .............................6
دروغجن امیران په خلکو واکمن کیدل ...........................6
عیاش وزیران په خلکو واکمن کیدل .............................7
فاسقین ( بد کاره ) قاریان پیداکیدل .............................7
داسې وخت به راشي چې قرانکریم به شرم ګڼل کیږي . ...............8
اولاد لرونکي خلک به غمجن وي .............................8
بې اولاده خلک به خوشحال وي .............................8
داسې وخت به راشي چې کوچنیآن به په لویانو امر او خبرې کوي ........9
داسې وخت به راشي چې خلک به جهاد ترک کړي .......................9
داسې وخت به راشي چې دنیا به خلک له دین سره ګډه کړي..........10
خلک به په هلکانو غیرت کوي ( هلکان ساتل)......................... 10
د زنا اولاد به زیات شي .............................10
داسې مرض به راشي چې خلک به له مدینې منورې څخه شام ته ځي....11
معادن به ډیر شي مګر واک به یې له بدو خلکو سره وي .....................11

په اخر وخت کې به حج کول بند شي ........................ 11
مینځه به خپل بادار وزیروي ........................ 12
داسې وخت به راشي چې د لمانځه د امامت لپاره به امام نه پیدا کیږي ......... 12
داسې وخت به راشي چې لیکوال به نه پیدا کیږي ........................ 13
له نا اهلو ( بدعتیانو ) خلکو څخه به علم زده کیږي ........................ 13
سپوږمۍ پرسیدل ........................ 13
فحش الفاظ به زیات شي ........................ 14
امانت کار خلک به خاین شي ........................ 14
خپله لښته یا دُره به سرې سره غړیږي ........................ 14
خپله څپلۍ یا بوټ له سرې سره غږیدل........................ 15
یو ناڅاپه مرګ ........................ 15
له ګاونډي سره بد سلوک کول........................ 16
د خلکو زړونه به د حق له ویلو مړه شي ........................ 16
خلک به له لمانځه څخه بې پروا ( غافل ) شي ........................ 17
د اسلام به یوازې نوم پاته شي........................ 17
قرانکریم به یوازې رسم ( رواج ) پاتې شي ........................ 18
تندرونه به زیات شي ........................ 18
د عربو هلاکیدل ........................ 19
فلج مرض زیاتیدل ........................ 19
خطیبان به زیات شي ........................ 19
د ښځو او سړیو مشابهت یو له بل سره ........................ 20
په ښکاره کافر کیدل ........................ 20
فحش او بخل ښکاره کیدل ........................ 21

ذلیل خلک څرګندیدل ........................................ 21
ښه خلک به له مینځه لاړ شي ........................................ 22
فساد او فتنې خوښول( بې دینه خلکو سره دوستي کول ) ........................................ 22
مسجد ته راتلل خو لمونځ پکې نه کول ........................................ 23
یوازې شناخته ( پیژندونکو ) خلکو ته سلام اچول ........................................ 23
نا اهله خلک مشران کیدل ........................................ 24
قتلونه زیاتیدل ........................................ 24
د مدائن سپینه ماڼۍ فتحه کیدل ........................................ 25
داسې امن به راشي چې زړه ښځه به یوازې سفرکوي خو هیڅ ویره به نه وي ........................................ 25
ایټالویان ( رومیان ) به د شام په دابق ښار باندې حمله کوي ........................................ 25
جهل زیاتیدل ........................................ 26
دیني علم کمیدل ........................................ 26
زنا زیاتیدل ........................................ 26
د رافضه په نوم قوم را پیدا کیدل ........................................ 27
د شرابو څښل زیاتیدل ........................................ 27
په آخر وخت کې سړي کمیدل ........................................ 27
د دونیا ګټلو لپاره علم زده کول ........................................ 28
باران کیدل خو نباتات نه شنه کیدل ........................................ 28
له انسانانو سره د څناورو خبرې کول ........................................ 29
زلزلې زیاتیدل ........................................ 30
بازارونه زیاتیدل ........................................ 30
زمانه ( وخت ) زر زر تیریدل ........................................ 31
په مسجدونو فخر کول ........................................ 31

تجارت زیاتیدل ........................ 32
د ښځو تجارت ........................ 32
زکات اداکول په خلک تاوان وګڼي ........................ 33
دوستي قطع کول ........................ 33
د دروغو شاهدي ویل ........................ 34
د رښتیا شاهدي نه ویل ........................ 34
د دنیا په خاطر دین خرڅول او کافر کیدل ........................ 35
د پخوانیو جاهلیتونو ( د یهودو ، هندوانو ، و غیره ) پیروي کول ........................ 35
په مسلمانانو کې د شرک کارونه او د مشرکانو پیروي ( تقلید ) کول ........................ 36
د فتنو له وجې د مرګ تمنا کول ........................ 37
د غرونو حرکت له خپل ځای څخه ........................ 38
د خلکو مسخ کیدل ( مخونه او جسمونه بدلیدل ) ........................ 39
له خپلې ګمراهۍ څخه ناخبري ........................ 39
( خسوف ثلاثة ) درې ځایه ځمکه ښکته ننوتل ........................ 40
د مهدي ( علیه السلام ) راتلل ، څرګند کیدل (خروج مهدي) ........................ 41
د امام مهدي صاحب صفات یا نښې ........................ 45
د دجال لویه فتنه ........................ 46
د دجال څو صفتونه چې مسلمانان یې وپیژني ........................ 51
د دجال د را وتلو ( څرګندیدو ) ځای ........................ 52
له دجال څخه د بچ کیدلو ( محفوظ پاتې کیدلو ) طریقه ........................ 53
له اسمان څخه د عیسی ابن مریم علیهما السلام را ښکته کیدل ........................ 54
د حضرت عیسی علیه السلام صفات ........................ 57
یاجوج ماجوج ........................ 61

د لمر راختل له مغرب څخه ........................................ 66
د ځمکې څخه خبرې کونکي حیوان راوتل ( ظهور دابة الارض ) .. ......... 66
دود ( لوګی ) راتلل ........................ ..... .......... 70
را الوتل د نرم باد له یمن یا شام له طرف څخه ... ...... ............ 71
د قرآنکریم پورته کیدل اسمان ته ............ ..... ......... 71
د حجر الاسود پورته کیدل اسمان ته ........... ..... ...... 72
په ښکاره د ورځې په لاره کې زنا کول ........... ..... ....... 72
په لارو او کوڅو کې خلک یو په بل سوریدل ( سپریدل ) . ...... ............ 73
د کعبې نړیدل (ورانیدل ) د حبشي په لاس .... ..... ..... ......... 74
له عدن ښار څخه اور را وتل قیامت به د ورځې قایمږي .......... 75
قیامت به د جمعې په ورځ وي ................ ..... ............... 77
د جنت صفت .......................... ..... ..... ........... 80
د دوزخ صفت ........................ ..... ..... ............ 80
مآخذ ...................................... ..... ..... ......... 81

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين قال الله تبارک وتعالى : وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لاَّ رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَن فِي الْقُبُورِ

## د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) پیغمبر کیدل

امام حسن بصري ، امام بغوي او امام حافظ ابن حجر وايي چې د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) بعثت د قيامت لُمړۍ نښه ده .

قال الحسن البصري : بعثة رسول الله صلى الله عليه وسلم من أشراط الساعة

( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم باب أن بعثة النبي صلى الله عليه وسلم من أشراط الساعة)

وقال البغوي في "تفسيره": "وكان النبي صلى الله عليه وسلم من أشراط الساعة".

وذكر الحافظ ابن حجر في "فتح الباري" عن الضحاك : أنه قال: "أول أشراطها بعثة محمد صلى الله عليه وسلم ".

(صحيح ابن حبان مع حواشي الأرناؤوط كاملة باب ذكر الإخبار عن قرب الساعة من النبوة بالإشارة المعلومة )

## د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) مرگ

له حضرت عوف ابن مالك ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې زه د تبوک په غزا کې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) ته راغلم او راته يې وويل چې د قيامت شپږ نښې شمار کړه ، لُمړۍ نښه يې زما مرګ دی .

عن عَوْفَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهْوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَقَالَ اعْدُدْ سِتًّا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَوْتِي . ( صحيح البخاري )

## دروغ زیاتیدل

له حضرت ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه نښه داده چې دروغ به زيات شي ( خلک به په ورځنيو کارونو کې ډير زيات دروغ وايي )
لکه اوس وخت کې په تليفون کې ډير زيات دروغ يو بل ته ويل کيږي .
**مثلاً** : موټر کې به ناست وي ، ورته وايي به ؛ همدا اوس له موټره ښکته شوم څو دقيقو کې به در ورسيږم .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ ... وَيَكْثُرَ الْكَذِبُ . ( مجمع الزوائد باب في أمارات الساعة رقم الحديث ١٢٤٥٠ )

## دوکه زیاتیدل

له حضرت عوف ابن مالک ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې دوکه به زياته شي ، خلک به په دروغجن باور کوي او ريښتينی سړی به دروغجن ګڼل کيږي .
عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ سِنِينَ خَدَّاعَةً يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ ، وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ
( مسند امام احمد ابن حنبل ، مسند البزار )

## شپانه د قوم مشران کیدل

له حضرت ابو هریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې شپانه (کوچیان ) به د خلکو رئیسان وي .
لکه اوس چې په خپلو سترګو وینو چې کوچیان ؛ ملکان ، وکیلان او د قوم مشران دي ، مخکې به یې میږې څرولې او اوس په پارلمان کې وکیل دی . سبحان الله ؛ د محبوب ( علیه السلام ) معجزې ورځ په ورځ څرګندیدونکې دي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرَى رُعَاةُ الشَّاءِ رُؤُوسَ النَّاسِ
( مسند امام احمد ابن حنبل رقم الحدیث ۹۱۱۷ )

## له قرانکریم څخه پرته د نورو خبرو عملي کول

له حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ( رضي الله عنهما ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې له دین څخه غیر خلک به د خلکو په مخ کې د قرانکریم څخه پرته لیکنې کوي ( قانون او مادې به را باسي ) مګر څوک به یې نه منع کوي .
لکه اوس یې چې په خپلو سترګو وینو .
**مثلاً** : قرانکریم وایي چې څوک واده لرونکی سړی یا واده لرونکې ښځه زنا وکړي نو رجم ( په تیږو ویشتل او وژل ) کیږي به . خو اوس دا خبره نشته او دا کار ظلم او جنایت بلل کیږي . حتا بعضو خلکو خو ځان هم کافر کړ ، ځکه د رجم له آیت څخه انکار کوي ، نو اوس چې څوک زنا وکړي اول خو هیڅ توجه نه ورته کیږي که توجه ورته وشي هم ، نو فقط دومره ورسره کیږي چې یو څه وخت بندي شي او بیرته د پیسو په مقابل کې خلاص شي .

قرانکريم کې الله ( جل جلاله ) فرمايلي دي چې څوک قتل وکړي نو بايد قاتل قصاص ( بيرته ووژل ) شي . مګر اوس دا خبره نشته اوس خو اول قاتل ازاد ګرځي که ونيول شي هم ؛ نو بندي شي او بيا بيرته د قيد له پوره کولو مخکې د پيسو په مقابل کې خلاص شي .

قرانکريم کې الله ( جل جلاله ) فرمايلي ؛ چې څوک غلا وکړي نو لاس يې بايد قطع ( پرې ) شي خو اوس دا خبره نشته او د لاس قطع کولو په ځای ډير کم وخت بندي شي او بيرته خلاص شي .

شريعت وايي چې څوک شراب وڅښي نو ۸۰ دُرې ( د څرمنې لښته ) به وهل کيږي خو اوس له کال ۱۳۹۳ څخه را په ديخوا ځينو ځايونو کې شراب علني خرڅيږي او څښونکی يې هيڅ نه مجازات کيږي که مجازات هم شي نو يو څو ورځې .

شريعت وايي چا چې لواطت وکړ بايد مړ کړل شي مګر اوس دې خبرې ته هيڅ توجه نه کيږي .

ږيره پريښودل واجب دي مګر اوس چې څوک ږيره لري هغه ته سپکاوی او په حقارت کتل کيږي حتا تروريست او داسې نورو نومونو باندې نومول کيږي حتا په لاره کې په موټر کې د انتحاري نوم ورته ورکول کيږي .

او داسې نورې خبرې چې دا ټول د قرانکريم سره مخالف دي او د غرب مزدورانو اوس د خلکو په مينځ کې عملي کړي دي خو څوک يې مخه نه نيسي ، که د مخنيوي لپاره يې څوک اقدام وکړي هغه تروريست او په نورو مختلفو نومونو ياديږي .

عَن عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : مِنَ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ ....، وَيُقْرَأَ فِي الْقَوْمِ الْمُثَنَّاةُ لَيْسَ فِيهِمْ أَحَدٌ يُنْكِرُهَا قِيلَ : وَمَا الْمُثَنَّاةُ ؟ قَالَ : مَا اكْتُتِبَتْ سِوَى كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ.

( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم ، المستدرک على الصحيحين رقم الحديث ۸۶۶۰ )

## لوړ لوړ کورونه ( بلند منزل ) جوړول

له حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښنو څخه یوه دا ده چې خلک به د کورونو بلندمنزلو په جوړولو کې سیالۍ کوي او یو د بل له ضده به یې لوړ لوړ جوړوي .
لکه اوس یې چې په خپلو سترګو وینو .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ. ( مسند امام احمد بن حنبل ، شعب الایمان )

## د ښو خلکو سپکاوی کول

له حضرت عبدالله بن عمرو ( رضي الله عنهما ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښنو څخه یوه دا ده چې ښه خلک به توهین ( سپک ) کیږي د بد او شرانداز خلکو به احترام کیږي او لوړ مقام ( رتبه ) به ورکول کیږي او کلي ( بانډې ) به له منافقانو څخه ډکې شي ، یعنې منافقان به دومره زیات شي .
لکه اوس یې چې په خپلو سترګو وینو منافقانو ته رُتبې او انعام ورکول کیږي ، د قوم مشر او د کلي واک او قدرت ورسره وي ....
او علماءکرام او اهل دین خلک سپک ګڼل کیږي او حسد ورسره کیږي ، په ناحقه یې جاسوسي کیږي ، بندیان کیږي ، شکنجه کیږي ، په بدو نومونو یادیږي ، وهل کیږي ، او له کلي شړل کیږي ، رابطه ورسره قطع کیږي او داسې نور ...
په اوس وخت کې کال ۱۳۸۸ را دیخوا ( د امریکا د اشغال په زمانه کې ) د علماؤ د بدنامۍ لپاره څومره پیسې مصرفیږي .

د علماؤ د بدنامۍ لپاره له هرې طریقې څخه کار اخیستل کیږي ، خو کفار او د هغوی مزدوران او غلامان دې خبر وي چې څومره کوشش وکړي د علماؤ عزت نشي کمولای ، ځکه چاته چې الله ( جل جلاله ) عزت ورکړی وي د هغه عزت ته هیڅوک تاوان نشي رسولای ، بلکې د علماؤ او اهل دین خلکو په ځوررولو باندې نور هم د هغوی مرتبه او د خلکو په زړه کې مینه زیاتیږي ، په تجربه رسیدلې خبره ده .

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ : إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُوضَعَ الْأَخْيَارُ ويُشْرَفُ الْأَشْرَارُ وَ يَسْوَدُ كُلَّ قَوْمٍ مُنَافِقُوهُم.

( کنزالعمال في سنن الأقوال والأفعال رقم الحدیث ۳۹۶۱۷ )

## په ناحقه وینې تویدل

حضرت عوف بن مالک وايي د تبوک په غزا کې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) راته وویل : له قیامت څخه مخکې به په ناحقه وینې تویې شي .

عن عوف بن مالک قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بین یدي الساعة ...سَفْكِ الدِّمَاءِ بِغَيْرِ حَقٍّ ،

( المستدرک علی الصحیحین )

## دروغجن امیران په خلکو واکمن کیدل

حضرت معاذ بن جبل له رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) څخه روایت کوي چې قیامت څخه مخکې به درواغجن امیران واکمن شي .

عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تقوم الساعة حتی یبعث الله أمراء کذبة

(مجمع الزوائد ، إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

# عياش وزيران په خلكو واكمن كيدل

حضرت معاذ بن جبل له رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) څخه روايت كوي چې قيامت څخه مخكې به په خلكو باندې عياش او فاسق وزيران مقرر شي .

عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تقوم الساعة حتى يبعث الله ..... ووزراء فجرة

(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ، إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

# فاسقين ( بدكاره ) قاريان پيداكيدل

حضرت معاذ بن جبل له رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) څخه روايت كوي چې قيامت څخه مخكې به بدكاره قاريان پيدا شي .

لكه اوس چې وينو په بعضې خايونو كې د قاريانو د بدنامۍ لپاره بعضې قاريان څومره غلط كارونه كوي .

عن معاذ بن جبل قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لا تقوم الساعة حتى يبعث الله لا تقوم الساعة حتى يبعث الله ...... ، وقراء فسقة

( مجمع الزوائد ، إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## داسې وخت به راشي چې قرانكريم به شرم ګڼل كيږي

له حضرت ابو موسى ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخكې به داسې وخت راشي چې خلک به په قرانكريم ( تلاوت ، فيصله يا احكامو ) شرميږي .

وعن أبي موسى رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **لا تقوم الساعة حتى يكون القرآن عارا** . ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## اولاد لرونكي خلک به غمجن وي

له حضرت ابو موسى ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخكې به داسې وخت راشي چې اولاد لرونكي خلک به غمجن وي .

مطلب دا چې د اولاد د سرنوشت په فكر كې به وي او د اولاد راتلونكي ته به خوريږي .

عن أبي موسى رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **لا تقوم الساعة ... وحتى تحزن ذوات الأولاد**. ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## بې اولاده خلک به خوشحال وي

له حضرت ابو موسى ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخكې به داسې وخت راشي چې بې اولاده خلک به خوشحال وي .

مطلب د اولاد د راتلونكي فكر او تشويش به ور سره نه وي .

عن أبي موسى رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **لا تقوم الساعة ... وتفرح العواقر**، ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## داسې وخت به راشي چې کوچنيان به په لويانو امر او خبرې کوي

له حضرت عايشه ( رضي الله عنها ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : چې قيامت نه مخکې به داسې وخت راشي چې ماشومان يا کم عمره هلکان به په لويانو ( مشرانو ) امر کوي .

لکه اوس چې وينو بعضې ځوانان د لويانو احترام نکوي حتا بد رد هم ورته وايي .

وعن عائشة رضي الله عنها قالت: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا تقوم الساعة حتى ... ويجترئ الصغير على الكبير، ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## داسې وخت به راشي چې خلک به جهاد ترک کړي

حضرت ابو هريره ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به جهاد ترک کړي .

وايي به چې اوس جهاد نشته ، لکه اوس فعلا ( کال ۱۴۰۰ ) خلک همدا خبره کوي .

وعن أبي هريرة رضي الله عنه؛ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أشراط الساعة: ..... وأن يعطل السيف من الجهاد

( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## داسې وخت به راشي چې دنيا به خلک له دين سره ګډه کړي

حضرت ابو هريره ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به دنيا په دين پورې وتړي .

يعنې دونياوي کارونه به خلک له دين څخه شماروي . نعوذ بالله

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أشراط الساعة: ... وأن تختل الدنيا بالدين .( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## خلک به په هلکانو غيرت کوي ( د خلکو تر منځ به هلکان ساتل رواج شي )

له حضرت ابوهريره ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به په هلکانو داسې غيرت کوي لکه څرنګه يې چې په ښځو کوي .

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم؛ قال: لا تقوم الساعة حتى يتغايروا على الغلام كما يتغايرون على المرأة . ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## د زنا اولاد به زيات شي

له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : د قيامت له نښو څخه يوه داده چې د زنا اولاد به زيات شي .

عن ابن مسعود رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: « يا ابن مسعود ! إن من أعلام الساعة وأشراطها أن يكثر أولاد الزنى

( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## داسې مرض به راشي چې خلک به له مدينې منورې څخه شام ته ځي

له حضرت ابوهريره ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : چې قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې داسې سخت مرض به راشي چې خلک به له مدينې منورې څخه شام ته لاړ شي د صحت لپاره .

عن أبي هريرة رضي الله عنه؛ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تقوم الساعة حتى يخرج الناس من المدينة إلى الشام يبتغون فيها الصحة

( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## معادن به ډېر شي مګر واک به يې له بدو خلکو سره وي

له حضرت ابوهريره ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به معادن زيات شي مګر واک به يې له بدو خلکو سره وي .

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تقوم الساعة حتى تظهر معادن كثيرة لا يسكنها إلا أراذل الناس

( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## په اخر وخت کې به حج کول بند شي

حضرت ابوسعيد الخدري ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله ( صل الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې حج کول به بند شي .

لکه يو مثال يې اوس وخت ( ۱۳۹۹ کال ) دی ، چې د کرونا مريضي له امله حج ونشو او هيچا حج و نکړ .

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لا تقوم الساعة حتى لا يحج البيت . ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## مینځه به خپل بادار وزیږوي

له حضرت ابو هريره ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : چې له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې ښځه به خپل بادار وزيږوي .

دلته دوه احتماله دي : اول دا چې مينځه به ام ولده شي . دوهم يا دا چې له قيامت څخه مخکې به ځامن خپلو مورګانو سره داسې رويه ( چلند ) کوي لکه څوک بې چې خپلې مينځې ( نوکرې ) سره کوي .

عن أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ تَلِدَ الأَمَةُ رَبَّهَا. ( صحيح البخاري )

## داسې وخت به راشي چې د لمانځه د امامت لپاره به امام نه پيدا کيږي

له حضرت سلامة بنت الحُر ( رضي الله عنها ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به امام پسې ګرځي مګر نه به پيدا کيږي چې لمونځ ورپسې وکړي . ( يعني هيڅوک به د امامت لياقت نه لري )

عَنْ سَلاَمَةَ بِنْتِ الْحُرِّ أُخْتِ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ الْفَزَارِيِّ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لاَ يَجِدُونَ إِمَامًا يُصَلِّي بِهِمْ . ( صحيح مسلم )

## داسې وخت به راشي چې ليكوال به نه پيدا كيږي

له حضرت عمروبن تغلب ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې په يوه لوی کلي کې به يو ليکوال نه پيدا کيږي ( يعنې جهل به دومره زيات شي )
عن عمرو بن تغلب قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : إن من أشراط الساعة ...... ويلتمس في الحي العظيم الكاتب فلا يوجد . ( سنن النسائى )

## له نا اهلو ( بدعتيانو ) خلكو څخه به علم زده كيږي

له ابي أمية اللخمي څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې خلک به علم له نا اهله خلکو څخه حاصلوي .
عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ اللَّخْمِيِّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ ثَلاثَةً: إِحْدَاهُنَّ أَنْ يَلْتَمِسَ الْعِلْمَ عِنْدَ الأَصَاغِرِ. ( المعجم الكبير للطبرانى )

## سپوږمۍ پړسيدل

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې سپوږمۍ به وپړسيږي ، حتا چې خلک به سپوږمۍ ته ګوري او د يوې شپې سپوږمۍ به د دوه شپو سپوږمۍ ورته ښکاري .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ انتفاخُ الأَهِلَّةِ حَتَّى يُرَى الْهِلالُ لِلَيْلَتِهِ، فَيُقَالُ: هُوَ لِلَيْلَتَيْنِ".
( المعجم الكبير للطبرانى ، السنن الواردة فى الفتن للداني )

## فحش الفاظ به زيات شي

له حضرت انس ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې د خلکو ترمنځ به ښکنځلې زياتې شي .
لکه اوس وخت کې چې د ټولنې د ماشومانو او حتا ځوانانو تر منځ اوريدل کيږي .
عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من أشراط الساعة الفحش والتفحش ، ( مجمع الزوائد )

## امانت کار خلک به خاين شي

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې امانت کار خلک به خاين شي او خاين خلک به امانت کار وګرځي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى ... ، وَيُخَوَّنُ الأَمِينُ وَيُؤْتَمَنُ الْخَائِنُ
( صحيح ابن حبان باب ذكر أمارة يستدل بها على قيام الساعة رقم الحديث ۶۸۴۴ )

## خپله لښته يا دُره به سړي سره غږيږي

له ابوسعيد ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې داسې وخت به راشي چې سړي سره به خپله دُره خبرې کوي .
لکه اوس د تکنالوجۍ زمانه ده او دا هر څه ښکاره شوي دي .
عن أبي سعيدٍ قال قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : والذي نفْسي بيدِهِ لا تقومُ الساعة ... وحتى يُكَلِّمَ الرجُلَ عَذَبَةَ سَوْطِهِ . (كنز العمال في سنن الاقوال والافعال ، الاحكام الشرعية )

## خپله څپلۍ یا بوټ له سړي سره غږیدل

له ابوسعيد ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې سړی به له خپلې څپلۍ سره غږیږي .

( لکه اوس دا وخت را رسیدلی دی ، مثلا د لاس ساعت دی او تلیفوني استفاده ورڅخه کیږي نو کیدای شي داسې وخت هم راشي چې د بوټ یا څپلۍ څخه هم د ساعت په شان د مبایل استفاده وشي ) او اوس داسې سپورتي بوټونه راوتلي دي چې کله سپورت شروع کیږي نو ټایمر يې ووهي يو ساعت وروسته خپله خبرې کوي چې وخت پای ته ورسیده .

عن أبي سعيدٍ قال قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : والذي نفْسي بيدِهِ لا تقومُ الساعة ... حتى وشراك نعله ، ( مسند امام احمد بن حنبل ، مجمع الزوائد )

## یو ناڅاپه مرګ

له حضرت عاصم بن بهدله له شعبي ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې ناڅاپه مرګونه به زيات شي .

لکه اوس وخت کې چې وینو ناڅاپه مرګونه څومره زيات شوي خصوصاً د سکته قلبي ، سکته مغزي ، موټر ، موټر سایکل او داسې نورو ...

عن عاصم بن بهدلة عن الشعبي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن من أشراط الساعة موت الفجأة . ( السنن الواردة فی الفتن للداني ، مصنف ابن ابي شيبة )

## له ګاونډي سره بد سلوک کول

له عبدالله بن عمرو ( رضي الله عنهما ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلى الله علیه وسلم ) وفرمایل : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې همسایه ګان به یو له بل سره بد چلند ( اخلاق ، رویه ، ژوند ) کوي .

عن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : إن من أشراط الساعة سوء الجوار . (كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال )

## د خلکو زړونه به د حق له ویلو مړه شي ( په حق به عمل نکوي )

له عبدالله بن عمر ( رضي الله عنهما ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلى الله علیه وسلم ) وفرمایل : زما امت به په داسې فتنو کې واقع شي چې د سړي زړه به داسې مړ شي لکه د انسان بدن چې مړ کیږي .

څوک به حق ته رجوع نکوي ، حق به بد ورته ښکاري .

عن ابن عمر رضى الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ليغشين أمتي بعدي فتن يموت فيها قلب الرجل كما يموت بدنه

( الفتن للمروزي ، إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## خلک به له لمانځه څخه بې پروا ( غافل ) شي

حضرت عبدالله بن عباس ( رضي الله عنهما ) وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) په حجة الوداع کې وفرمايل چې ... د قيامت يوه نښه دا ده چې خلک به لمانځه ته توجه نکوي .

وعن ابن عباس رضي الله عنهما؛ قال: حج النبي صلى الله عليه وسلم حجة الوداع، ثم أخذ بحلقة باب الكعبة، فقال: "أيها الناس ! ألا أخبركم بأشراط الساعة ؟ فقام إليه سلمان رضي الله عنه، فقال: أخبرنا فداك أبي وأمي يا رسول الله ! قال: إن من أشراط الساعة : إضاعة الصلاة . ( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

## د اسلام به يوازې نوم پاتې شي

حضرت عبدالله بن عباس ( رضي الله عنهما ) وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) په حجة الوداع کې وفرمايل : ... د قيامت يوه نښه دا ده چې د اسلام احکام به څوک نه عملي کوي او د اسلام به فقط نوم پاتې شي .

يعني خلک به په نوم مسلمانان وي د اسلام هيڅ امر به نه عملي کوي .

وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: حج النبي صلى الله عليه وسلم حجة الوداع ثم أخذ بحلقة باب الكعبة فقال: أيها الناس ألا أخبركم بأشراط الساعة ؟ فقام إليه سلمان رضي الله عنه فقال: أخبرنا فداك أبي وأمي يا رسول الله قال: إن من أشراط الساعة .... ويذهب الإسلام فلا يبقى إلا اسمه . ( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

## قرانکريم به يوازې رسم ( رواج ) پاتې شي

حضرت عبدالله بن عباس ( رضي الله عنهما ) وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) په حجة الوداع کې وفرمايل : ... د قيامت يوه نښه دا ده چې د قرانکريم به فقط رسم پاتې شي ، يعنې څوک به عمل ورباندې نه کوي .

وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: حج النبي صلى الله عليه وسلم حجة الوداع ثم أخذ بحلقة باب الكعبة فقال: أيها الناس ألا أخبركم بأشراط الساعة ؟ فقام إليه سلمان رضي الله عنه فقال: أخبرنا فداك أبي وأمي يا رسول الله قال: إن من أشراط الساعة ... ويذهب القرآن فلا يبقى إلا رسمه . ( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

## تندرونه به زيات شي

حضرت ابوسعيد خدري ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به تندرونه زيات شي حتا خلک به يو بل ته وايي نن سهار په چا تندر را وغورځيده .

لکه اوس وخت کې چې په ځينې هيوادونو کې خلک په تندرونو هلاک کيږي مثلا په کال ۱۳۹۷ / ۲ / ۵ تاريخ په هند کې ډير خلک په تندر هلاک شول او داسې نور ...

يا هم د افغانستان په ختيځ ولايت لغمان کې د پژواک رسنۍ په خبره په کال ۱۴۰۰ د ثور د مياشتې په ۲۶ تاريخ د قرغيو ولسوالۍ د مفتي قلا په سيمه کې دوه نفره د تندر لويدلو له امله مړه شول .

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: تكثر الصواعق عند اقتراب الساعة حتى يأتي الرجل القوم فيقول: من صعق قبلكم الغداة ؟ فيقولون:صعق فلان وفلان . ( المستدرک على الصحيحين ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم ما جاء في كثرة الصواعق )

## د عربو هلاکيدل

له ام حرير ( رضی الله عنها ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت د نږدې کيدو يوه نښه دا ده چې عرب به هلاک شي .
عن أُمِّ الْحَرِيرِ قالت قال رسول الله صلى الله عليه و سلم من اقتراب الساعة هلاك العرب . ( سنن الترمذي )

## فلج مرض زياتيدل

حضرت انس بن مالک ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : د قيامت د نږدې کيدو يوه نښه دا ده چې فلج مرض به زيات شي .
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مِنَ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ أَنْ يَفْشُوَ الْفَالِجُ . (اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم ، المجالسة وجواهر العلم )

## خطيبان به زيات شي

له حضرت علي ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې په منبرونو به خطيبان ډير شي . علماء به له واليانو سره يو ځای کار کوي ، حرام به ورته حلال ګرځوي او حلال به ورباندې حراموي ، د خپلې خوښې مطابق به فتوا ورکوي .
وعن علي رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من اقتراب الساعة: إذا كثر خطباء المنابر، وركن علماؤكم إلى ولاتكم، فأحلوا لهم الحرام، وحرموا عليهم الحلال، فأفتوهم بما يشتهون، ( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## د ښځو او سړیو مشابهت یو له بل سره

له حضرت حذیفة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د قیامت د نږدې کیدو یوه نښه دا ده چې سړیان به ځان له ښځو سره مشابه کوي او ښځې به ځان له سړیانو سره .

لکه اوس ( کال ۱۴۰۰ ) یې چې په خپلو سترګو وینو چې سړیان د ښځو په شان ځان جوړوي ، خصوصاً اکثره ځوانان د جینکو په شان ځان جوړوي او اکثره جینکۍ اوس د هلکانو لباس کوي .

عن حذيفة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من اقتراب الساعة اثنتان وسبعون خصلة .... ومنها تشبه الرجال بالنساء، والنساء بالرجال

( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## په ښکاره کافر کیدل

له حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې خلک به علني ( ښکاره ) کافر کیږي . او هیڅ پروا به د چا نکوي .

لکه اوس چې په خپلو سترګو وینو چې خلک عیسویان او نصرانیان کیږي یا د کوم هیواد د قبولیت لپاره د هغوي دین قبلوي . او په رسنیو کې هم وینو چې خلک له اسلام څخه ښه په افتخار او ښکاره منحرف کیږي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُكْفَرَ بِاللَّهِ جَهْرًا . ( المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۶۶ )

## فحش او بخل ښکاره کيدل

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې فحشا او بخل به ښکاره شي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَظْهَرَ الْفُحْشُ وَالْبُخْلُ
( صحيح ابن حبان باب ذكر أمارة يستدل بها على قيام الساعة رقم الحديث ۶۸۴۴ )

## ذليل خلک څرګنديدل

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې داسې خلک به را څرګند شي ، چې هغه خلک د خلکو په نظر کې هيڅ هم نه وو او نه هم ترې خبر وو .
لکه اوس چې وينو ، ميدان شريرو او بې علمه خلکو ته پاتې شو چې د هيڅا د عزت پروا نلري ، حتا د چا د مرګ پروا هم نلري .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى ...... ، وَيَظْهَرُ التُّحُوتُ فَقَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْوُعُولُ وَمَا التُّحُوتُ قَالَ:الْوُعُولُ وُجُوهُ النَّاسِ وَأَشْرَافُهُمْ وَالتُّحُوتُ الَّذِينَ كَانُوا تَحْتَ أَقْدَامِ النَّاسِ لاَ يُعْلَمُ بِهِمْ. ( صحيح ابن حبان باب ذكر أمارة يستدل بها على قيام الساعة رقم الحديث ۶۸۴۴ )

## ښه خلک به له مینځه لاړ شي

له حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي : د قیامت له نښنو څخه یوه دا ده چې ښه خلک به هلاک شي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى .....وَيَهْلِكُ الْوُعُولُ

( صحیح ابن حبان باب ذکر أمارة یستدل بها علی قیام الساعة رقم الحدیث ۶۸۴۴ )

## فساد او فتنې خوښول( بې دینه خلکو سره دوستي کول )

له حضرت ابو اُمامة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښنو څخه یوه دا ده چې تاسو به فساد خوښونکي او فتنه خوښونکي جوړ شئ ؛ حتا یو سړي به له یوې نبطي بې دینه ( یا نورو عیاشو او فاحشو ) ښځو سره واده کوي مګر د خپل تره مسلمانې او عفت ناکې لور چې واده یې ورسره کړی یا یې ورسره کوي ، هغې ته به هیڅ توجه ( نظر ) هم نکوي .

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَرْجِعُوا حَرَّابِينَ وَحَتَّى يَعْمِدَ الرَّجُلُ إِلَى النَّبْطِيَّةِ فَيَتَزَوَّجُهَا عَلَى مَعِيشَتِهِ وَيَتْرُكَ بنتَ عَمِّهِ لا يَنْظُرُ إِلَيْهَا. ( المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ۷۸۹۱ )

# مسجد ته راتلل خو لمونځ پکې نه کول

له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې په مسجد کې به خلک ګرځي مګر دوه رکعته لمونځ به پکې نکوي .

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَمُرَّ الرَّجُلُ فِي طُولِ الْمَسْجِدِ وَعَرْضِهِ لَا يُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ

( مجمع الزوائد باب فيمن دخل المسجد لغير صلاة ونحو ذلك رقم الحديث ۲۰۳۹ )

# يوازې شناخته ( پېژندونکو ) خلکو ته سلام اچول

له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې سلام اچول به د شناخت ( پېژندنې ) په اساس شي .

يعنې څوک چې سره پېژني هغوي به يو بل ته سلام اچوي او څوک چې يو بل نه پېژني هغوي به همداسې له يو بل څخه له سلام اچولو پرته تيرېږي .

لکه اوس چې دا خبره بلکل رښتيا شوې ده .

عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ السَّلَامُ عَلَى الْمَعْرِفَةِ .( المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۳۷۷ )

## نا اهله خلک مشران کيدل

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې يوه ورځ رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) په مجلس کې خلکو ته خبرې کولې چې يو کوچی راغی او د قيامت پوښتنه يې وکړه ؛ رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) ورته وفرمايل : کله چې کار نا اهله خلکو ته وسپارل شي نو د قيامت انتظار وکړئ .
لکه اوس وخت کې ( کال ١۴٠٠ ) چې نا اهله خلک د واسطې په اساس په لوړو وظيفو مقرر دي مګر هيڅ نه پوهيږي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ .... قَالَ : إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ.
( صحيح البخاري باب رفع الأمانة رقم الحديث ٦٠١٥ )

## قتلونه زياتيدل

حضرت شقيق صيب وايي چې زه له عبدالله او ابو موسی ( رضي الله عنهما ) سره ناست ووم چې دوی دواړو وويل ، چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې داسې ورځې به راشي چې ښځايه قتلونه به زيات شي .
لکه اوس وخت ( کال ١۴٠٠ ) کې چې په خپلو سترګو وينو چې څه حال روان دی ، هر چيرته ناحقه قتلونه کيږي او په بې علمۍ سره په خلکو د مرګ حکم کيږي ، خو دا هر څه د اسلامي نظام د نشتوالي له وجې .
عَنْ شَقِيقٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ وَأَبِي مُوسَى فَقَالاَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ لأَيَّامًا ...... وَيَكْثُرُ فِيهَا الْهَرْجُ وَالْهَرْجُ الْقَتْلُ
( صحيح البخاري باب ظُهُورِ الْفِتَنِ رقم الحديث ٦٥٣٨ )

## د مدائن سپينه ماڼۍ فتحه کيدل

حضرت عدي ابن حاتم وايي ، رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت نه مخکې به د مداين سپينه ماڼۍ د مسلمانانو په لاس فتحه کيږي .

دا ماڼۍ له بغداد څخه ٨٦ کيلومتره مسافه لري .

عن عدي بن حاتم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : إنه لا تقوم الساعة حتى يفتح القصر الأبيض الذي في المدائن (كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال . جامع الاحاديث )

و من المدائن الى بغداد ثمانية عشر فرسخا. ( المسالک والممالک الکبری )

## داسې امن به راشي چې زړه ښځه به يوازې سفرکوي خو هيڅ ويره به نه وي

حضرت عدي ابن حاتم وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت نه مخکې به داسې وخت راشي چې يوه زړه ښځه به يوازې له حجاز څخه عراق ته سفر کوي او هيڅ خطر به ورته نه وي .

عن عدي بن حاتم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنه لا تقوم الساعة حتى تسير الظعينة من الحجاز إلى العراق آمنة لا تخاف شيئًا

( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## ايټالويان ( روميان ) به د شام په دابق ښار باندې حمله کوي

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : له قيامت څخه مخکې به روميان د شام په دابق يا اعماق ښار باندې حمله کوي .

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا تقوم الساعة حتى ينزل الروم بالأعماق أو بدابق. ( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة )

## جهل زياتيدل

حضرت شقيق صيب وايي چې زه له عبدالله او ابو موسى ( رضي الله عنهما ) سره ناست ووم چې دوى دواړو وويل ، چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نبنو څخه يوه دا ده چې داسې ورځې به راشي چې جهل به زيات شي .

عَنْ شَقِيقٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ وَأَبِي مُوسَى فَقَالاَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ لأَيَّامًا يَنْزِلُ فِيهَا الْجَهْلُ ( صحيح البخاري باب ظُهُورِ الْفِتَنِ رقم الحديث ۶۵۳۸ )

## ديني علم كميدل

له حضرت انس ابن مالک ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نبنو څخه يوه دا ده چې ديني علم به کم شي .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ . ( صحيح البخاري باب رفع العلم و ظهور الجهل رقم الحديث ۷۸ )

## زنا زياتيدل

له حضرت انس ابن مالک ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې له رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) څخه مې واريدل چې وېې فرمايل : د قيامت له نبنو څخه يوه دا ده چې زنا به ډيره شي .

لکه اوس وخت کې چې حتا زنا ته څوک د ګناه په نظر هم نګوري او له مختلفو طريقو څخه زنا ته زمينه برابروي .

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ ... سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَقُولُ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ ... وَيَكْثُرَ الزِّنَا . ( صحيح البخاري باب اثم زناة رقم الحديث ۶۳۱۰ )

# د رافضه په نوم قوم را پیدا کیدل

ابراهیم بن الحسن ... روایت کوي او وایي چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : له قیامت څخه مخکې به یوه ډله را پیدا کیږي چې رافضه به نومیږي ، دوی له اسلام سره هیڅ اړیکه نلري .

عَنْ إبراهيم بن الحسن بْنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَجِيءُ قَوْمٌ قَبْلَ قِيَامِ السَّاعَةِ يُسَمَّوْنَ الرَّافِضَةَ براء مِنَ الإِسْلامِ

( المجالسه وجواهر العلم ، دلایل النبوة للبیهقی ، معجم ابن الاعرابي )

# د شرابو څښل زیاتیدل

له حضرت انس ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې وایي ما له رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) څخه واوریدل چې وېې فرمایل : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې شراب څښل به زیات شي .

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ ... سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ ... وَيَكْثُرَ شُرْبُ الْخَمْرِ . ( صحیح البخاري رقم الحدیث ۵۲۳۱ )

# په اخر وخت کې سړي کمیدل

حضرت انس ( رضي الله عنه ) وایي : ما له رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) څخه واوریدل چې وېې فرمایل : د قیامت له نښو څخه یوه نښه داده چې سړي به کم شي ( یعنې په جنګونو کې به مړه شي ) او ښځې به زیاتې پاتې شي ، حتا د پنځوسو ۵۰ ښځو لپاره به یو نفقه ګټونکي او حفاظت کونکي سړی وي .

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ ...سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ... وَيَقِلَّ الرِّجَالُ وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ

( صحیح البخاري باب يَقِلَّ الرِّجَالُ وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ رقم الحدیث ۴۸۳۰ )

# د دونیا ګټلو لپاره علم زده کول

له حضرت حذیفة بن یمان ( رضي الله عنه ) څخه روایت دي چې وایي : چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې خلک به دُنیا د آخرت په عمل وغواړي .
یعني علم به د دُینا او معاش لپاره حاصل کړي ، نه د الله ( جل جلاله ) لپاره .
عن حذیفة بن الیمان قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من اقتراب الساعة اثنتان وسبعون خصلة ... وَالْتُمِسَتِ الدُّنْيَا بِعَمَلِ الآخِرَةِ وَتُفُقِّهَ لِغَيْرِ الدِّينِ.
( سنن الدارمي باب تغير الزمان وما يحدث فيه رقم الحديث ۱۸۶ )

# باران کیدل خو نباتات نه شنه کیدل

له حضرت انس ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې باران به کیږي مګر ځمکه به هیڅ شی نه شنه کوي ( یعني برکت به نه وي ، دا به د خلکو د اعمالو نتیجه وي ) .
عَنْ انس بن مالک قال قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُمْطَرَ النَّاسُ مَطَرًا عَامًّا وَلاَ تُنْبِتُ الأَرْضُ شَيْئًا ( مسند امام احمد بن حنبل ، المسند الجامع )

# له انسانانو سره د ځناورو خبرې کول

له حضرت ابو سعید خدري ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : زما دې په الله ( جل جلاله ) قسم وي چې له قیامت څخه مخکې به د قیامت یوه نښه دا وي چې ځناور ( چارپایان ) به له انسانانو سره خبرې کوي .

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الإِنْسَ .( سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي كَلاَمِ السِّبَاعِ رقم الحديث ۲۳۳۶ )

چې دا واقعه د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) په وخت کې هم واقع شوې ده .

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : بَيْنَا رَاعٍ يَرْعَى بِالْحَرَّةِ إِذْ عَدَا الذِّئْبُ عَلَى شَاةٍ مِنَ الشِّيَاهِ ، فَحَالَ الرَّاعِي بَيْنَ الذِّئْبِ وَبَيْنَ الشَّاةِ ، فَأَقْعَى الذِّئْبُ عَلَى ذَنَبِهِ ، فَقَالَ : يَا عَبْدَ اللهِ ، تَحُولُ بَيْنِي وَبَيْنَ رِزْقٍ سَاقَهُ اللَّهُ إِلَيَّ ؟ فَقَالَ الرَّجُلُ : يَا عَجَبَاهْ ذِئْبٌ يُكَلِّمُنِي بِكَلاَمِ الإِنْسَانِ فَقَالَ الذِّئْبُ : أَلاَ أُخْبِرُكَ بِأَعْجَبَ مِنِّي ، رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْحَرَّتَيْنِ يُخْبِرُ النَّاسَ بِأَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ، فَزَوَى الرَّاعِي شِيَاهَهُ إِلَى زَاوِيَةٍ مِنْ زَوَايَا الْمَدِينَةِ ، ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : صَدَقَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ.

**ترجمه** : له حضرت ابي سعيد الخدري ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې یوه ورځ یو شپونکي د حرة په منطقه کې رمه څروله ، چې یو لیوه راغی او یوه میږه یې را ونیوله ، شپونکی ورغی او میږه یې ورڅخه خلاصه کړه ، نو لیوه له رمې څخه لرې کیناسته او شپونکي ته یې وویل : ای د الله بنده ولې زما او زما د رزق تر منځ چې الله ( جل جلاله ) راته را لیږلای وو ؛ مانع شوې ؟؟؟

شپونکي وویل : عجیبه ده ، لیوه له ما سره د انسانانو په ژبه خبرې کوي ، لیوه ورته وویل ؛ ایا زه درته له دې هم تعجب خبره ونکړم ؟؟؟

هغه دا چې ؛ رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) د دوه ډګرو ( حرتينو ) ځاى کې خلکو ته د مخکې امتونو حالات بيانوي .
شپونکي ځپله رمه د مديني منورې يو ځاى ته بوتله او ځپله د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) حضور ته ورغى او ټوله قيصه يې ورته وکړه ، نو رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) خلکو ته وويل : د الله ( جل جلاله ) په ذات قسم چې دا خبرې ريښتيا دي .

## زلزلې زياتيدل

له حضرت ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت څخه مخکې به زلزلې زياتې شي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ ... وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ
( صحيح البخاري باب ما قيل في الزلازل والآيات رقم الحديث ۹۷۸ )

## بازارونه زياتيدل

له حضرت ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه نښه دا ده چې بازارونه به نږدې شي .
يعنې بازارونه به زيات شي ، لکه اوس چې وينو . قدم په قدم به کليو کې دکانونه او بازارونه زياتيدل ، مخکيني حالت در په ياد کړئ او اوس حالت وګورئ .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى ...وَتَتَقَارَبَ الْأَسْوَاقُ . ( مجمع الزوائد باب في أمارات الساعة رقم الحديث ۱۲۴۵۰ )

# زمانه ( وخت ) زر زر تیریدل

له حضرت ابو هریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له نښو څخه یوه نښه داده چې وخت به لنډ شي ( زر زر به تیریږي ) ، کال به لکه د میاشت په شان تیریږي او میاشت به لکه د جمعې په شان او جمعه به لکه د یوې ورځې په شان او ورځ به د ساعت په شان زر زر تیریږي .

لکه اوس وخت ؛ کال څومره زر زر تیریږي ، میاشت لک جمعه داسې تیریږي ، په جمعه خو بلکل سړی نه پوهیږي چې څنګه تیره شوه .

سبحان الله : د محبوب ( علیه السلام ) معجزې ورځ په ورځ څرګندیږي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ فَتَكُونُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَيَكُونُ الشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَتَكُونُ الْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَيَكُونُ الْيَوْمُ كَالسَّاعَةِ ( مسند امام احمد بن حنبل رقم الحديث ۱۰۹۵۶ )

# په مسجدونو فخر کول

له حضرت انس بن مالک ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : د قیامت له راتلو څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به په مسجدونو باندې فخر کوي.

**مثلا** : مسجدونه به ښه ښکلي جوړوي او یو له بل څخه به زیات مصرف ورباندې کوي ، د هر کلي خلک به په خپل مسجد فخر کوي او د بل کلي خلکو ته به وایي چې مونږ داسې ښکلی مسجد جوړ کړی دی .

لیکن لمونځونه به په مسجد کې نه کوي او کورونو کې به یې کوي .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ ( سنن أبي داود باب في بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ )

# تجارت زیاتیدل

له طارق ابن شهاب څخه روایت دی هغه وایي مونږ له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) سره ناست وو؛ هغه ویل چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : له قیامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې تجارت به زیات شي

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ : كُنَّا عِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : أَنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ .... وَفُشُوَّ التِّجَارَةِ ،

( مسند امام أحمد رقم الحديث ۳۸۷۰ ، المستدرک على الصحيحين )

# د ښځو تجارت

له طارق ابن شهاب څخه روایت دی هغه وایي مونږ له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) سره ناست وو ؛ هغه ویل چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : له قیامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې ښځې به هم تجارت کوي حتا خپل میړه به په تجارت کې ملګری کړي .

میړه به خپله ښځه تجارت ته را وباسي ، او ښځه به خپله تجارت په مخ بیایي . یعنې اخیستل او خرڅول به خپله کوي .

لکه اوس په کال ( ۱۴۰۰ هش ) کې چې بعضې ځایونو کې په دکانونو کې ښځې ناستې وي او دکانداري کوي یا په بعضې بازارونو کې .

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ : كُنَّا عِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : أَنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ .... حَتَّى تُعِينَ الْمَرْأَةُ زَوْجَهَا عَلَى التِّجَارَةِ

( مسند امام أحمد رقم الحديث ۳۸۷۰ ، المستدرک على الصحيحين )

# زکات اداکول به خلک تاوان وګڼي

له حضرت عبدالله بن عباس ( رضي الله عنهما ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د قیامت له نښو یوه دا ده چې خلک به زکات اداکول تاوان ګڼي .

وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: حج النبي صلى الله عليه وسلم حجة الوداع، ثم أخذ بحلقة باب الكعبة فقال: أيها الناس ألا أخبركم بأشراط الساعة ؟ فقام إليه سلمان رضي الله عنه فقال: أخبرنا فداك أبي وأمي يا رسول الله قال: إن من أشراط الساعة ... تكون الزكاة مغرمًا ( اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

# دوستي قطع کول

له طارق ابن شهاب څخه روایت دی هغه وایي مونږ له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) سره ناست وو ؛ هغه ویل چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : له قیامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به دوستي قطع کړي .

لکه اوس چې په خپلو سترګو وینو ، د پخوا په نسبت اوس څوک دومره خپلوي نه پالي . حتا ورځ په ورځ دوستان په ډېره ناچیزه خبره دوستي قطع کوي .

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ : كُنَّا عِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : أَنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ... وَقَطْعَ الأَرْحَامِ

( مسند امام أحمد رقم الحديث ۳۸۷۰ )

# د دروغو شاهدي ویل

له طارق ابن شهاب څخه روایت دی هغه وایي مونږ له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) سره ناست وو ؛ هغه ویل چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : له قیامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به د دروغو شاهدي وایي .

لکه اوس چې خلک د پیسو په مقابل کې د دروغو شاهدي وایي حتا قسم هم ورباندې کوي .

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ : كُنَّا عِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : أَنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ .... وَشَهَادَةَ الزُّورِ .

( مسند امام أحمد رقم الحديث ٣٨٧٠ )

# د رښتیا شاهدي نه ویل

له طارق ابن شهاب څخه روایت دی هغه وایي مونږ له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) سره ناست وو ؛ هغه ویل چې رسول الله ( صلی الله علیه وســـلم ) فرمایلي دي : له قیامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې خلک به د حـــق ( رښتیا ) شاهدي پټوي او حق به څوک نه وایي .

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ : كُنَّا عِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : أَنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ ....، وَكِتْمَانَ شَهَادَةِ الْحَقِّ

( مسند امام أحمد رقم الحديث ٣٨٧٠ )

## د دنیا په خاطر دین خرڅول او کافر کیدل

د حضرت ابوهریره ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : په نیکو اعمالو تیزوالی ( ډیروالی ، عجله ) وکړئ ځکه داسې فتنې راتلونکې دي لکه د تورې شپې تار چې وشکیږي ، داسې چې یو سړی به په سهار کې مؤمن وي اوبیګاه به کافر وي یا به بیګاه مؤمن وي او سهار به کافر وي او د دُنیا د منفعت په خاطر به خپل دین خرڅ کړي. نعوذبالله

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ ... يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا

(صحیح مسلم باب الْحَثِّ عَلَى الْمُبَادَرَةِ بِالأَعْمَالِ قَبْلَ تَظَاهُرِ الْفِتَنِ رقم الحدیث ۳۲۸ )

معنا دا چې نیک اعمال زیات وکړئ او خپل یقین او توکل کلک کړئ ځکه چې په هغه وخت کې په دین باندې ثبات ډیر مشکل ده.

او بله خبره دا هم کیدای شي چې داسې تعبیر شي چې : سهار به مسلمان وي او بیګاه به کافر وي ، معنا دا چې بیګاه پورې به د کفري ډلې ملاتړ کوي ، هغه ډله به کافر او د کفارو لخوا جوړه شوې وي لیکن دی به د هغې ډلې ملاتړ کوي نو ځان به هم کافر کړي . والله أعلم بحقائق الأمور

## د پخوانیو جاهلیتونو ( د یهودو ، هندوانو ، و غیره ، ) پیروي کول

د حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې نبي اکرم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : قیامت نه راځي تر څو چې هغه وخت رانشي چې زما امت د پخوانیو أمتونو په شان لویشت په لویشت او ګز په ګز د پخوانیو جاهلیتونو پیروي ونکړي ، ورته وویل شو لکه د فارس یا د روم د کفارو په شان ؟ پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) ورته وفرمایل : نو نور د چا ؟؟؟ هو د همدغو خلکو .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَأْخُذَ أُمَّتِي بِأَخْذِ الْقُرُونِ قَبْلَهَا شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَفَارِسَ

وَالرُّومِ فَقَالَ وَمَنْ النَّاسُ إِلَّا أُولَئِكَ . ( صحیح البخاري باب قول النبي صلی الله علیه وسلم لتتبعن سنن من کان قبلکم ۷٦٦۴ )

لکه په اوسني عصر( کال ۱۴۰۰ ) کې چې مسلمانان په ډیر افتخار د کفارو پیروي کوي ، لکه لباس ، ویښتان ، زینت آرایش ......

د هندوانو او نورو کافرانو په شان لباس ، ویښتان او آرایش چې په تلویزون کې ویني بیا هماغسې کوي ، چې بیا ځان عصري او د نورو څخه لوی هم ګڼي ، په حقیقت کې دوی د کافرانو مقلدین ( پیروي کونکي ) او د هغوی سره ځان مشابه کونکي دي . او د شریعت په طریقه باندې لباس کونکو سړیانو او ښځو ته بیا د ساده او وروسته پاتې انسان خطاب کوي او ورته وایي ؛ اوس ددې موډ تللای دی ، ته اوس هم دا لباس کوې .

نو دا هم د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) یوه معجزه ده چې سلګونو کلونو مخکې یې فرمایلي دي او اوس ځرګنده شوه او نور به هم ځرګندیږي.

## په مسلمانانو کې د شرک کارونه او د مشرکانو پیروي ( تقلید ) کول

له حضرت ثوبان ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې وایي رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : قیامت نه قایمیږي تر څو چې څه ډله زما د امت څخه له مشرکینو سره پیوسته ( یوځا ی) نشي اوڅه ډله د بتانو عبادت ونکړي

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ وَحَتَّى يَعْبُدُوا الأَوْثَانَ

( سنن الترمذي باب مَا جَاءَ لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ كَذَّابُونَ رقم الحديث ۲۳۸۰ )

لکه په اوسني عصر کې دا هم امثال کیدای شي : قبرونو ته سجده کول ، قبر څخه طواف کول ( بعضې ښځې دا عادت لري ) ، باطلو پیرانو ته سجده کول ، د قبر

څخه غوښتنه کول چې زما حاجت پوره کړه ، د قبر لپاره نذر منل ( مثلاً بعضې وايي : که خدای ځوی راکړ ؛ نو پلانکی زيارت ګرموم ، يا هلته يو پسه حلالوم ) ، مړي ته اواز کول ( مثلا أئ پلانکيه بابا يا پلانکيه شهيده را ورسيږې ) او داسي نور شرکي الفاظ ...
اوس بله فتنه دا هم را پيدا شوې ده چې که چاته ووايې چې دا کارونه جايز ندي ؛ نو درته وايي به چې دا هم بې دينه شوی دی . بس ټاپه دربانده ولګوي .
فَنَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تَدْرِكَنَا وَإِيَّاكُمْ تِلْكَ الأَيَّامُ

## د فتنو له وجې د مرګ تمنا کول

له حضرت ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې صالح مسلمان به د هديره ( قبرستان ) له څنګه تير شي او وايي به چې کاش ددې مړي په ځای زه دلته خښ وای .
د فتنو له وجې به د مرګ تمنا ( هيله ، ارزو ) کوي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ
( صحيح البخاري باب لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُغْبَطَ أَهْلُ الْقُبُورِ رقم الحديث ۶۵۸۲ )

# د غرونو حرکت له خپل ځاى څخه

له حضرت سمرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې وايي رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : قيامت نه قايميږي تر څو چې داسې وخت را نشي چې غرونه له خپلو ځايونو څخه حرکت وکړي او داسې غټ کارونه به ووينئ چې مخکې مو نه وي ليدلي.

عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَزُولَ الْجِبَالُ عَنْ أَمَاكِنِهَا وَتَرَوْنَ الأُمُورَ الْعِظَامَ الَّتِي لَمْ تَكُونُوا تَرَوْنَهَا

(المعجم الكبير رقم الحديث ۶۷۱۴ ، جامع الأحاديث ، كنزالعمال في سنن الأقوال والأفعال )

علامه سيوطي ( رحمه الله ) په تاريخ الخلفاء کې ليکلي دي چې د مقتدر په خلافت کې په کال ۳۰۰ په دينور کې يو غر راوښويده چې ډير هيبتناک آواز يې وکړ او ددې غره لاندې داسې اوبه جاري شوې چې ډير خلک يې غرق کړل:

و في سنة ثلاثمائة ساخ جبل بالدينور في الأرض و خرج من تحته ماء كثير أغرق القرى . ( تاريخ الخلفاء ، النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة )

په ۱۰۵۴ کال کې د أهجر غر وښويده

سنة أربع وخمسين وألف .... ساخ جبل الأهجر . ( تاريخ اليمن باب حصار ذی مرمر )

په ۱۰۷۱ کال کې په علاقه د بني عشب کې غر وښويده چې چې ډير کلي يې لاندې کړل

سنة إحدى وسبعين وألف ..... ساخ جبل في جهات بني عشب فأخرب قرية تحته إلا بيتين في طرفها ودفن كثير من أموالها . ( تاريخ اليمن باب وفود الأخبار بوصول جنود عثمانية الى مكة )

په ۱۰۷۴ کال کې د شرف د ښار د مدوم په علاقه کې يو غر وښويده

سنة أربع وسبعين وألف ..... ساخ جبل في جهات مدوم من بلاد الشرف

( تاريخ اليمن باب وفود الأخبار بوصول جنود عثمانية الى مكة )

د تاريخ په کتابونو کې نور واقعات هم موجود دي خو دلته په همدې باندې اکتفاء کوو ، په اوس وخت کې په افغانستان کې او نوره دونيا کې ځومره غرونه ښويدلي دي او نور به هم ښويږي.

## د خلکو مسخ کيدل ( مخونه او جسمونه بدليدل )

حضرت عبدالله بن مسعود ( رضي الله عنه ) وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : د قيامت يوه نښه داده چې مسخه ( د مخ بدليدل ) به زيات شي

عَنْ عَبْدِ اللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَالَ : بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَسْخٌ
( سنن ابن ماجة )
( شکل به يې بدل شي ، لکه دا واقعه په کال ۱۳۸۲ هــ ش کې په عمان کې دا واقعه پيښه شوه او د يوې جيني شکل د سپي په شکل بدل شو ، دا ځکه چې قرانکريم يې په ځمکه ويشتلی وو )

## له خپلې ګمراهۍ څخه ناخبري

حضرت عوف بن مالک وايي د تبوک په غزا کې رسول الله ( صلى الله عليه ) راته وويل : له قيامت څخه مخکې به داسې وخت راشي چې سړی به له خپلې ګمراهۍ څخه ناخبره وي چې زه اوس په سمه لار روان يم که ګمراه يم .
عن عوف بن مالک قال قال رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) بين يدي الساعة ... وَيُصْبِحُ الْعَبْدُ لاَ يَدْرِي أَضَالٌّ هُوَ أَمْ مُهْتِدٍ.
( المستدرک على الصحيحين ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

## ( خسوف ثلاثة ) درې ځايه ځمکه ښکته ننوتل

حضرت حذيفة وايي چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل ... درې خسفه به واقع کيږي په مشرق کې ، مغرب کې ، جزيرة العرب کې .

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الْغِفَارِيِّ قَالَ كُنَّا قُعُودًا نَتَحَدَّثُ فِى ظِلِّ غُرْفَةٍ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَذَكَرْنَا السَّاعَةَ فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُنَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَنْ تَكُونَ أَوْ لَنْ تَقُومَ السَّاعَةُ ... وَثَلاَثُ خُسُوفٍ ، خَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ .( صحيح مسلم باب في الايات التي تكون قبل الساعة )

داسې مشخص ځايونه يې ندي معلوم په دې درې ځايونو کې ، ليکن داسې لوی خسفونه به وي چې کيدای شي ولايت يا څو ولايتونه يا په لسګونو يا په سلګونو کلي په ځمکه ننوځي ، لکه په کال ٣٤٦ کې په طالقان کې ١٥٠ کلي په ځمکه کې خسف شول :

سنة ست وأربعين وثلثمائة فيها كان بالري ونواحيها زلازل عظيمة خارجة عن الحد ثم خسف ببلاد الطالقان في ذي الحجة فلم يفلت من أهلها إلا نحو ثلاثين رجلا وخسف بمائة وخمسين قرية من قرى الري . ( النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة جلد ١ ص ٣٨٠)

نو کيدای شي چې دا درې خسفونه ددې خسفونو څخه څو برابره لوی او زيات وي . والله اعلم

## د مهدي ( عليه السلام ) راتلل ، څرګندېدل (خروج مهدي )

له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت څخه مخکې به زما د کورنۍ څخه يو سړی په خلکو بادشاهي کوي چې نوم به يې زما نوم وي او د پلار نوم به يې زما د پلار نوم وي .

د مهدي صاحب نوم احمد يا محمد او د پلار نوم يې عبدالله دی .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمْلِكَ النَّاسَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي ، يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي ، وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمَ أَبِي

( سنن ابي داؤد باب المهدي رقم الحديث ۴۲۸۴ ، معجم الاوسط ، جامع الاحاديث ، جامع الاصول في احاديث الرسول ، صحيح ابن حبان ، کنزالعمال في سنن الاقوال والافعال ، مصنف ابن ابي شيبة ، المستدرک على الصحيحين ، المعجم الکبير للطبراني )

د اهل بيتو څخه به وي چې د حضرت فاطمه ( رضي الله عنها ) او د حضرت علي ( رضي الله عنه ) د ځوی حسن ( رضي الله عنه ) د کورنۍ څخه به وي .

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِى مِنْ وَلَدِ فَاطِمَةَ .

( سنن ابي داؤد باب المهدي رقم الحديث ۴۲۸۶ ، جامع الاصول في احاديث الرسول ،کنز العمال في سنن الاقوال والافعال ، جامع الاحاديث ، معالم السنن شرح سنن أبي داود )

**ترجمه** : له حضرت ام سلمة ( رضي الله عنها ) څخه روايت دی چې له رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) څخه مې واوريدل چې وېې فرمايل : امام مهدي صيب به زما له کورنۍ ( خاندان ) څخه وي د حضرت بي بي فاطمة ( رضي الله عنها ) د اولاد څخه به وي .

امام مهدي به په ځمکه کې ۷ اوو کاله حکومت کوي ، ظلم او فساد به د ځمکې له مخ څخه لرې کړي او عدالت به قايم کړي :

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمَهْدِيُّ مِنِّي ، أَجْلَى الْجَبْهَةِ ، أَقْنَى الأَنْفِ ، يَمْلأُ الأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلاً ، كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا ،

يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ. ( سنن ابي داود باب المهدي رقم الحديث ۴۲۸۷ ، إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة ، الجامع الصغير من حديث البشير النذير ،كنز العمال في سنن الاقوال والافعال ، صحيح ابن حبان ، جامع الاحاديث )

**ترجمه** : له حضرت ابو سعيد خدري ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : مهدي زما له اولاد څخه دی . پراخ تندی ، لوړه پوزه لري او ځمکه به له عدل او مساوات څخه ډکه کړي لکه څنګه چې مخکې له ده څخه له ظلم څخه ډکه شوې وه ، ۷ اوو کاله به حکومت کوي .

دده په وخت کې به اسماني او ځمکني نعمتونه زيات شي . مسلمانان به د امام مهدي صاحب پيروي کوي او په ټولو اسلامي هيوادونو به تسلط او واک حاصل کړي.

روايات وايي چې امام مهدي صاحب به د مشرق له طرف څخه ظهور کوي او کله مو چې وليده نو بيعت ورسره وکړئ ، حتا که تاسو په ګېنو او لاسونو په واوره روان ياست او دغه امام مهدي د الله ج خليفه دہ .

عَنْ ثَوْبَانَ ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ... ، ثُمَّ تَطْلُعُ الرَّايَاتُ السُّودُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ ... إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَبَايِعُوهُ وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الثَّلْجِ ، فَإِنَّهُ خَلِيفَةُ اللهِ الْمَهْدِيُّ. ( سنن ابن ماجة بَابُ خُرُوجِ الْمَهْدِيِّ رقم الحديث ۴۰۸۴ ، المستدرک على الصحيحين ، كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال ، جامع الاحاديث ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم ، جمع الجوامع )

په صحيحينو کې د امام مهدي صيب په باره کې اجمالي او اشاروي حديثونه راغلي دي مګر صراحتاً ( ښکاره ، واضح ) او تفصيلاً ندي راغلي ، او بغير له صحيحينو څخه نورو د حديثو کتابونو کې صراحتاً يادونه شوې ده .

**په صحيح مسلم کې دي** : ستاسو به څه حال وي هغه وخت چې ابن مريم عيسى ( عليه السلام ) له اسمانه را ښکته شي او د الله ( جل جلاله ) کتاب (

قرانکريم ) او د نبي ( محمد صلى الله عليه وسلم ) دين ته به خلک را بلي ( دعوت کوي )

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ فَأَمَّكُمْ مِنْكُمْ . فَقُلْتُ لاِبْنِ أَبِى ذِئْبٍ إِنَّ الأَوْزَاعِىَّ حَدَّثَنَا عَنِ الزُّهْرِىِّ عَنْ نَافِعٍ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ « وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ ». قَالَ ابْنُ أَبِى ذِئْبٍ تَدْرِى مَا أَمَّكُمْ مِنْكُمْ قُلْتُ تُخْبِرُنِى. قَالَ فَأَمَّكُمْ بِكِتَابِ رَبِّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَسُنَّةِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

( صحيح مسلم باب نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ حَاكِمًا بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ٤١١ )

**په صحيح البخاري کې دي** : ستاسو به څه حال وي هغه وخت چې ابن مريم ( عيسى عليه السلام ) له اسمانه را ښکته شي او امام مو ستاسو له ډلې څخه وي .

(( دلته هم په حديث کې امام مهدي صيب ته اشاره شوې ده ))

عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْيَمَ فِيكُمْ وَإِمَامُكُمْ مِنْكُمْ

( صحيح البخاري باب نُزُولُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عليهما السلام رقم الحديث ٣١٩٣ ، صحيح ابن حبان )

فهذه الاحاديث التي وردت في الصحيحين ، وإن لم يكن فيها التصريح بلفظ المهدي ، تدل على صفات رجل صالح يؤم المسلمين في ذلك الوقت . وقد جاءت الاحاديث في السنن والمسانيد وغيرها مفسرة لهذه الاحاديث التي في الصحيحين ، ودالة على أن ذلك الرجل الصالح اسمه محمد ، ويقال له المهدي . والسنة يفسر بعضها بعضاً.

د حضرت ابو سعيد خدري ( رضي الله عنه ) څخه روايت ده چې پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل :

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أُبَشِّرُكُمْ بِالْمَهْدِيِّ يُبْعَثُ فِي أُمَّتِي عَلَى اخْتِلافٍ مِنَ النَّاسِ وَزَلازِلَ ، فَيَمْلأُ الأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلاً ، كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا ، يَرْضَى عَنْهُ سَاكِنُ السَّمَاءِ وَسَاكِنُ الأَرْضِ ، يَقْسِمُ الْمَالَ صِحَاحًا فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ : مَا صِحَاحًا ؟ قَالَ : بِالسَّوِيَّةِ بَيْنَ النَّاسِ قَالَ : وَيَمْلأُ اللَّهُ قُلُوبَ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِنًى ، وَيَسَعُهُمْ عَدْلُهُ ، حَتَّى يَأْمُرَ مُنَادِيًا فَيُنَادِي فَيَقُولُ :

مَنْ لَهُ فِي مَالٍ حَاجَةٌ ؟ فَمَا يَقُومُ مِنَ النَّاسِ إِلاَّ رَجُلٌ فَيَقُولُ أنا ، فيقول : ائْتِ السَّدَّانَ -يَعْنِي الْخَازِنَ – فَقُلْ لَهُ : إِنَّ الْمَهْدِيَّ يَأْمُرُكَ أَنْ تُعْطِيَنِي مَالاً ، فَيَقُولُ لَهُ : احْثِ حَتَّى إِذَا جَعَلَهُ فِي حِجْرِهِ وَأَبْرَزَهُ نَدِمَ ، فَيَقُولُ : كُنْتُ أَجْشَعَ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ نَفْسًا ، أَوَعَجَزَ عَنِّي مَا وَسِعَهُمْ ؟ قَالَ : فَيَرُدُّهُ فَلاَ يَقْبَلُ مِنْهُ ، فَيُقَالُ لَهُ : إِنَّا لاَ نَأْخُذُ شَيْئًا أَعْطَيْنَاهُ ، فَيَكُونُ كَذَلِكَ سَبْعَ سِنِينَ ، أَوْ ثَمَانِ سِنِينَ ، أَوْ تِسْعَ سِنِينَ – ثُمَّ لاَ خَيْرَ فِي الْعَيْشِ بَعْدَهُ ، أَوْ قَالَ : ثُمَّ لاَ خَيْرَ فِي الْحَيَاةِ بَعْدَهُ . ( مسند امام احمد ابن حنبل واللفظ له رقم الحديث ١١٣٤٦ ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم ، مجمع الزوائد )

**ترجمه** : تاسو ته زيري درکوم په مهدي سره مبعوث کېږي به زما په امت کې داسې وخت کې چې اختلافونه او زلزلې به ډېرې وي ، په ځمکه کې به د ظلم په ځای عدل جاري کوي ، د اسمان او ځمکې اوسيدونکي به ورڅخه خوشحال وي ، مالونه به د خلکو تر منځ په عدل سره تقسيموي ، الله ( جل جلاله ) به په مسلمانانو کې شتمني ( سرمايه داري ) او بې پروايي راولي ،

عدل او مساوت به يې ټولو ته رسيږي تر دې چې يو ناري وهونکي به ناره ووهي چې څوک مال ته اړتيا لري ؛ نو بغير له يوه نفر څخه به بل هيڅوک اواز ورته ونکړي ، امام مهدي صاحب به ورته ووايي چې خزانه دار ته ورشه او ورته ووايه چې امام مهدي صاحب امر کړی دی چې ده ته مال ورکړه ، خزانه دار ته چې کله ورشي نو خزانه دار به ورته ووايي چې څومره مال غواړې واخله ، کله چې دا سړی مال واخلي او کورته يې يوسي ،نو له ځان سره به ووايي چې د حضرت محمد ( صلى الله عليه وسلم ) په امت کې حريصترين انسان زه ووم ؛ ايا د هغه احسان ماته کفايت او بسنه ونکړه ؟؟؟

نو دا سړی به دا مال بيرته را واخلي او خزانه دار ته به يې راوړي ، ليکن خزانه دار به دا مال بيرته نه قبلوي او نه به يې اخلي ، خزانه دار به ورته وايي چې کله مونږ يو ځل چاته مال بخشش کړو بيا يې بيرته نه اخلو ، دغه حالت به ۷ يا ۸ يا ۹ کاله دوام وکړي ، او وروسته له دې به د مسلمانانو ژوند ډېر سخت شي ، پيغمبر

(صلى الله عليه وسلم ) فرمايي : ورروسته له دې به په ژوند کې خير نه وي او ژوند به ډير خراب شي او خوشحالي او ښه والی به له ژوند څخه قطع شي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :... مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي وَاسْمُ أَبِيهِ اسْمَ أَبِي ، ( سنن ابي داؤد باب المهدي رقم الحديث ٤٢٨٤ )

قَالَ فَأَمَّكُمْ بِكِتَابِ رَبِّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَسُنَّةِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

( صحيح مسلم باب نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ حَاكِمًا بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ٤١١ )

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الْمَهْدِيُّ مِنِّي أَجْلَى الْجَبْهَةِ أَقْنَى الأَنْفِ يَمْلأُ الأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلاً كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ

( سنن ابي داود باب المهدي رقم الحديث ٤٢٨٧ )

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ..... ، ثُمَّ تَطْلُعُ الرَّايَاتُ السُّودُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ ... إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَبَايِعُوهُ وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الثَّلْجِ ، فَإِنَّهُ خَلِيفَةُ اللهِ الْمَهْدِيُّ.

( سنن ابن ماجة كتاب الفتن رقم الحديث ٤٠٨٤ )

د دې حديثو په حواله د امام مهدي ( عليه السلام ) صفات په لاندې ډول دي :

## د امام مهدي صاحب صفات يا نښې

اول ــ نوم بې محمد

دوهم ــ د پلار نوم بې عبدالله

دريم ــ ډير عادل انسان ده

څلورم ــ خلاص تندی ( وچ ويلی ) لری

پنځم ــ نری پوزه لري

شپږم ــ تور بيرغ بې دی

اووم ــ ٧ يا ٨ يا ٩ کاله به حکومت کوي

# د دجال لویه فتنه

دجال د الله ( جل جلاله ) له طرفه ډیر لوی امتحان دی د خلکو لپاره .
دجال مسیح ، مسیح په دوه معناګانو سره راغلی دی
اول ـــ مسیح صدیق ( ډیر رینښتیا ویونکي )
دوهم ـــ مسیح ضلیل ( ګمراه او دروغجن )
مسیح عیسي ابن مریم علیهما السلام ( ډیر رینښتیا ویونکي ) په معنا ده.
مسیح دجال ( ډیر ګمراه او ډیر دروغجن ) په معنا ده.
نو الله ( جل جلاله ) دوه مسیحه یو د بل ضد پیداکړي دي ، عیسي ( علیه السلام ) مسیح د هدایت دي لکه معالج د امراضو ( پیڅ ، ړوندوالي )
او دجال مسیح ګمراه دی . دروغ او استدراج ، چې الله ( جل جلاله ) ورته ورکړي دي لکه ، د دجال په امر باران کیدل ، ژوندي کول ، د ځمکې سرسبز کول او داسې نور د عادت خلاف کارونه.
دجال ته ځکه هم مسیح وایي چې یوه سترګه یې ړنده ده یا له دې وجې چې په ځلوینښتو ورځو کې به په ټوله ځمکه باندې ګرځي او سیاحت کوي.
دجال سور رنګه انسان دی ، غټ بدن لري ، د سر وینښتان یې ډیر ګونجې دي ښی سترګه یې ننوتلي ړنده ده او چپه سترګه یې لکه د انګور دانه د باندې طرفته راوتلې ده ، او د خزاعه قبیلې د عبدالعزا بن قطن سره همځیره ده :
عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى ، وَعَيْنُهُ الأُخْرَى كَأَنَّهَا عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ
( مسند امام احمد واللفظ له رقم الحديث ٦٠٧٠ ، صحيح البخاري ، صحيح مسلم ، سنن الترمذي )
**ترجمه**: له حضرت عبدالله ابن عمر ( رضي الله عنهما ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : بیشکه چې د دجال ښی سترګه ړنده ده او بله سترګه یې لکه د انګور دانې په شان راوتلې ده .

رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي چې تا سو الله ( جل جلاله ) په دُنيا کې نشئ ليدلای او دجال ملعون خدای نده .

او دجال ملعون ړوند ده او الله ( جل جلاله ) ړوند ندی ، د دجال په تڼده( تندي ) باندې ( ک ف ر ) يا کافر نوشته دي چې هر سيواد لرونکي او بې سيواده انسان به يې ويلای شي .

رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ... مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ كَاتِبٍ وَغَيْرِ كَاتِبٍ

( صحيح مسلم باب ذكر الدجال و صفته و ما معه رقم الحديث ٧٥٥٢ )

بل حديث شريف کې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي :

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الدَّجَّالُ مَمْسُوحُ الْعَيْنِ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ . ثُمَّ تَهَجَّاهَا ك ف ر « يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُسْلِمٍ ».

( صحيح مسلم باب ذكر الدجال و صفته و ما معه رقم الحديث ٧٥٥٠ )

بل حديث شريف کې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي :

عَنْ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ... أَلَا إِنَّهُ أَعْوَرُ وَ إِنَّ رَبَّكُمْ لَيسَ بِأَعْوَرَ وَ مَكْتُوبٌ بَينَ عَينَيهِ. ک ف ر

( صحيح مسلم كتاب الفتن باب ذكر الدجال رقم الحديث ٧٥٤٨ )

**ترجمه** : له حضرت انس بن مالک ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : خبردار دجال ړوند دی او ستاسو رب ړوند ( نابينا ) ندی او د سترګو تر منځ يې ليکلي دي (ک ف ر ) يعنې کافر

د حضرت حذيفة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي :

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَهُ إِلَى حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ فَقَالَ لَهُ عُقْبَةُ حَدِّثْنِي مَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الدَّجَّالِ قَالَ : إِنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ وَإِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ مَاءً فَنَارٌ تُحْرِقُ وَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ

النَّاسُ نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي الَّذِي يَرَاهُ نَارًا فَإِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ . ( صحيح مسلم باب ذكر الدجال و صفته و ما معه رقم الحديث ٧٥٥٥ )

**ترجمه** : دجال به راوځي ، له هغه سره به اوبه او اور وي نو هغه څه چې اوبه دي نو هغه په حقيقت کې سوزونکی اور دی او هغه چې خلک ويني چې اور ده هغه خوږې اوبه دي، نو هر چا چې له تاسو څخه دجال پيداکړ ( يعنې د دجال په زمانه کې موجود وي ) نو هغه اور اختيار کړئ ځکه هغه خوږې اوبه دي.

د حضرت جابر ابن عبدالله ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې پيغمبر( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل :

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِي خَفْقَةٍ مِنَ الدِّينِ ، وَإِدْبَارٍ مِنَ الْعِلْمِ ، فَلَهُ أَرْبَعُونَ لَيْلَةً يَسِيحُهَا فِي الأَرْضِ ، الْيَوْمُ مِنْهَا كَالسَّنَةِ ، وَالْيَوْمُ مِنْهَا كَالشَّهْرِ ، وَالْيَوْمُ مِنْهَا كَالْجُمُعَةِ ، ثُمَّ سَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ هَذِهِ ، وَلَهُ حِمَارٌ يَرْكَبُهُ عَرْضُ مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا ، فَيَقُولُ لِلنَّاسِ : أَنَا رَبُّكُمْ وَهُوَ أَعْوَرُ ، وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ – ك ف ر مُهَجَّاةٌ – يَقْرَؤُهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ كَاتِبٌ ، وَغَيْرُ كَاتِبٍ ، يَرِدُ كُلَّ مَاءٍ وَمَنْهَلٍ إِلاَّ الْمَدِينَةَ وَمَكَّةَ ، حَرَّمَهُمَا اللَّهُ عَلَيْهِ ، وَقَامَتِ الْمَلاَئِكَةُ بِأَبْوَابِهَا ، وَمَعَهُ جِبَالٌ مِنْ خُبْزٍ ، وَالنَّاسُ فِي جَهْدٍ إِلاَّ مَنْ تَبِعَهُ ، وَمَعَهُ نَهْرَانِ أَنَا أَعْلَمُ بِهِمَا مِنْهُ ، نَهْرٌ يَقُولُ الْجَنَّةُ ، وَنَهْرٌ يَقُولُ النَّارُ ، فَمَنْ أُدْخِلَ الَّذِي يُسَمِّيهِ الْجَنَّةَ ، فَهُوَ النَّارُ ، وَمَنْ أُدْخِلَ الَّذِي يُسَمِّيهِ النَّارَ ، فَهُوَ الْجَنَّةُ ، قَالَ : وَيَبْعَثُ اللَّهُ مَعَهُ شَيَاطِينَ تُكَلِّمُ النَّاسَ ، وَمَعَهُ فِتْنَةٌ عَظِيمَةٌ ، يَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ فِيمَا يَرَى النَّاسُ ، وَيَقْتُلُ نَفْسًا ثُمَّ يُحْيِيهَا فِيمَا يَرَى النَّاسُ ، لاَ يُسَلَّطُ عَلَى غَيْرِهَا مِنَ النَّاسِ ، وَيَقُولُ : أَيُّهَا النَّاسُ هَلْ يَفْعَلُ مِثْلَ هَذَا إِلاَّ الرَّبُّ ، قَالَ : فَيَفِرُّ الْمُسْلِمُونَ إِلَى جَبَلِ الدُّخَانِ بِالشَّامِ فَيَأْتِيهِمْ ، فَيُحَاصِرُهُمْ ، فَيَشْتَدُّ حِصَارُهُمْ وَيُجْهِدُهُمْ جَهْدًا شَدِيدًا ، ثُمَّ يَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ فَيُنَادِي مِنَ السَّحَرِ ، فَيَقُولُ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ ، مَا يَمْنَعُكُمْ أَنْ تَخْرُجُوا إِلَى الْكَذَّابِ الْخَبِيثِ ؟ فَيَقُولُونَ : هَذَا رَجُلٌ جِنِّيٌّ ، فَيَنْطَلِقُونَ فَإِذَا هُمْ بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ، فَتُقَامُ الصَّلاَةُ ، فَيُقَالَ لَهُ : تَقَدَّمْ يَا رُوحَ اللهِ ، فَيَقُولُ : لِيَتَقَدَّمْ إِمَامُكُمْ فَلْيُصَلِّ بِكُمْ ،

فَإِذَا صَلَّى صَلاَةَ الصُّبْحِ خَرَجُوا إِلَيْهِ ، قَالَ : فَحِينَ يَرَى الْكَذَّابُ يَنْمَاثُ كَمَا يَنْمَاثُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ ، فَيَمْشِي إِلَيْهِ ، فَيَقْتُلُهُ حَتَّى إِنَّ الشَّجَرَةَ وَالْحَجَرَ يُنَادِي : يَا رُوحَ اللهِ ، هَذَا يَهُودِيٌّ ، فَلاَ يَتْرُكُ مِمَّنْ كَانَ يَتْبَعُهُ أَحَدًا إِلاَّ قَتَلَهُ.

(مسند امام احمد واللفظ له رقم الحديث ١٥٠١٧ ، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال )

**ترجمه** : له حضرت جابر بن عبدالله ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : دجال به را وځي په داسې حال کې چې ډير بې علمه به وي او د دين له ورانولو سره به راځي ، د جال به څلويښت ۴۰ شپې په دونيا کې وي چې په ټوله ځمکه کې به ګرځي ددې څلويښتو ورځو يوه ورځ به يې يو کال په اندازه وي بله ورځ به يې د يوې مياشتې په اندازه وي بله ورځ به يې د يوې جمعې په اندازه وي ، او نورې ورځې به يې د عادي ورځو په اندازه وي ، له دجال سره به يو خر هم وي چې وربانديې سپريږي به ، د خره د دوه غوږونو ترمنځ فاصله به يې څلويښت ګزه ( چې تقريبا ۲۰ متره کيږي ) وي(( د خره د لفظ چې عربي کې مرکب ياد شوی نو دا لفظ په خره دلالت نکوي چې خر به ورسره وي بلکه مرک دا معنا چې په کوم شي سرې سپريږي هغه ته مرکب وايي که هغه موټر وي که کشتي وي لکه د نوح عليه السلام کشتۍ ته د مرکب په لفظ اشاره راغلې ده او طيارې ته هم مرکب ويل کيدای شي ځکه سرې پکې سپريږي نو کيدای شي دجال سره ډيره پرمختللې طياره وي د د دواړو وزرونو تر منځ فاصله يې د حديث مطابق شل متره وي والله اعلم – د ليکوال نظر ))

خلکو ته به وايي چې زه خدای يم ، دجال ړوند ده ،خو تاسو پوه شئ چې الله (جل جلاله ) ړوند ندی ، د دواړو سترګو ترمنځ به يې ( ک ف ر) ليکلي وي چې هر مؤمن سواد لرونکی او بيسيواده به يې ويلای شي.

هر ځای ته به لاړ شي مګر مکې مکرمې او مدينې منورې ته نشي تللاي ، چې هلته الله ( جل جلاله ) د دجال داخليدل حرام کړي دي او په دروازو يې الله( جل جلاله ) ملايکې مقررې کړي دي چې دجال ته اجازه نه ورکوي چې دواړو حرمينو شريفينو ( مکه ، مدينه ) ته داخل شي ،

( دجال سره د ډوډۍ ( خوراک ) يو غر ده ( يعنې دده سره به خوراکي شيان ډير زيات وي ) او د دجال په وخت کې به خلک سخت خوراکي مشکل سره مخامخ وي ، څوک چې دده په طرف وي هغوی به ښه ماړه وي او څوک چې ددجال مخالف وي هغه به په مشکلاتو کې وي . چې دا د الله ( جل جلاله ) لطرفه ډير غټ امتحان ده ـــ ليکوال )

دوه نهرونه ورسره دي . يو نهر ( وياله ) يې جنت او بل يې دوزخ دی ، څوک چې د جنت په نهر کې داخل شي هغه په حقيقت کې دوزخ ته داخل شو او څوک يې چې په جنت کې داخل شو هغه په حقيقت کې دوزخ ته داخل شو .

( دا نهرونه به يا هم خاص ځای کې وي او يا به هم د موټر يا طيارې يا بله ټکنالوجي په واسطه سره دا نهرونه جوړ کړي او ځان سره به يې ګرځوي . والله اعلم . الله ( جل جلاله ) د امتحان لپاره دا قدرت ورکړی ليکن د پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) په مبارکه خوله يې مونږ ته دا خبر هم راکړی چې زه به تاسو ته د دجال دوزخ جنت وګرځوم . ليکوال )

دجال سره به الله ( جل جلاله ) شيطانان راوليږي چې خلکو سره به خبرې کوي او غټه فتنه ورسره ده چې اسمان ته به امر کوي او باران به اوروي ،

يو نفر به مړ کړي او بيا به يې بيرته را ژوندی کړي ، مګر په همدې يو نفر به دجال د مړه کولو او بيرته راژوندي کولو تسلط ( قدرت ) لري نور خلک نشي وژلای حتا همدغه سړی بې چې وژلی اوبيرته يې راژوندي کړي همدا سړي بيا نشي وژلي خلکو ته به وايي چې زه خداي يم ، او تاسو وګورئ چې دا کار بغير له خدايه څوک نشي کولای .

نو په دې وخت کې به مسلمانان د شام د دخان غره په طرف وتښتي. دجال به ورپسې ورشي او مسلمانان به محاصره کړي . چې ډيره شديده محاصره به وي او مسلمانان به په سخت مشکل کې وي . په دې وخت کې به عيسي ( عليه السلام ) له اسمان څخه رابنکته شي .

## ددجال څو صفتونه چې مسلمانان یې باید پدې صفتونه وپیژنـې او له فتنې څخه یې ځان وساتې

اول ــ ځوان سړی دی .
دوهم ــ سوروالي ته ورته رنګ لري.
دریم ــ ټیټ قد یې دی .
څلورم ــ د پښو لاندې برخه یې یو بل ته نزدې ده او پاس برخه یې سره لرې ده
پنځم ــ د سر ویښتان یې ډیر ګونجې ګونجې دي.
شپږم ــ تندی یې پراخه ده.
اووم ــ د دواړو سترګو ترمنځ یې ( ک ف ر ) یا کافر لیکل شوي چې هر بیسواده او سیواد لرونکی انسان به یې ویلای شي .
اتم ــ غاړه یې پلنه ده.
نهم ــ ښۍ سترګه یې ړنده ده .
لسم ــ چپه سترګه یې د انګور دانې په شان راوتلې ده
یولسم ــ جنت او دوزخ به ورسره وي چې په حقیقت کې یې جنت دوزخ ده او دوزخ یې جنت ده.
دولسم ــ عقیم ( بې اولاده دی ).
دیارلسم ــ یو غټ مَرکب ( سورلۍ ) لري چې ورباندې سوریږي به.
دلته حدیث شریف کې مرکب یاد شوی دی او مرکب هر هغه شي ته وایي چې په هغه باندې انسان سپریږي . بعضې خلک وایي چې دجال سره به غټ خر وي ، خو دا خبره صحیح نده ځکه په عربي کې خره ته ( حمار ) وایي او دلته حدیث کې د حمار لفظ نشته ، د مَرْکَبْ لفظ استعمال شوی دی ، مرکب موټر ، کشتۍ او طیارې درې واړو ته استعمال کیدای شي . او په حدیث کې ویل شوي چې د دې مرکب د دوه غوږونو په مینځ کې فاصله به څلویښت ګزه ( چې شل متره کیږي ) وي ، نو د خره د غوږونو تر مینځ شل متره فاصله نشي کیدای او عقل هم دا نه

مني چې شل متره پلن خر دې په دنيا کې موجود وي ، مګر داسې کشتۍ شته چې څلويښت ګزه ( شل متره ) پلنوالی لري ، لکه اوس وخت کې چې بحري جنګي بيړۍ دومره لوېې لوېې دي چې جنګې طيارې پکې کيني او ترې الوزي ، يا که دا مرکب لفظ څخه طياره واخلو نو هم صحيح ده ، ځکه چې داسې طياره جوړه شوې ده چې د وزرونو تر منځ فاصله يې څلويښت ګزه ( شل متره ) ته رسيږي .

( د ليکوال نظر )

## د دجال د را وتلو ( ځرګنديدو ) ځای

د حضرت انس ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : دجال به د اصبهان د يهودو څخه راوځي او هغه سره به ٧٠ اويا زره يهود ملګري وي چې د ټولو به تاج په سر وي يا به طيالسي قيمتي لباس اغوستی وي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَخْرُجُ الدَّجَّالُ مِنْ يَهُودِيَّةِ أَصْبَهَانَ ، مَعَهُ سَبْعُونَ أَلْفًا مِنَ الْيَهُودِ عَلَيْهِمُ السِّيجَانُ

( مسند امام احمد ابن حنبل رقم الحديث ١٣٣٧٧ ،جامع الاحاديث ، كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال )

د ابو امامة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې وايي : د دجال يوه غټه فتنه داده چې يوه کوچي ته به ووايي چې که ستا مور او پلار را ژوندي کړم نو بيا شاهدي وايې چې زه ستا خدای يم ؟؟؟

هغه کوچي به ورته ووايي چې هو ؛ نو دوه شيطانان چې دجال سره دي هغه به د کوچي د پلار او مور په شکل ځان جوړ کړي او ورته وايي به چې ای ځويه : ددې سړي ) دجال ( پيروي وکړه چې همدا ستا خدای دی ) .

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ ، قَالَ : خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، فَكَانَ أَكْثَرُ خُطْبَتِهِ حَدِيثًا ، حَدَّثَنَاهُ عَنِ الدَّجَّالِ ... وَإِنَّ مِنْ فِتْنَتِهِ أَنْ يَقُولَ لأَعْرَابِيِّ : أَرَأَيْتَ إِنْ

بَعَثْتُ لَكَ أَبَاكَ وَأُمَّكَ ، أَتَشْهَدُ أَنِّي رَبُّكَ ؟ فَيَقُولُ : نَعَمْ ، فَيَتَمَثَّلُ لَهُ شَيْطَانَانِ فِي صُورَةِ أَبِيهِ ، وَأُمِّهِ ، فَيَقُولاَنِ : يَا بُنَيَّ ، اتَّبِعْهُ ، فَإِنَّهُ رَبُّكَ ،

( سنن ابن ماجة بَابُ فِتْنَةِ الدَّجَالِ رقم الحديث ۴۰۷۷ ، كنزالعمال في سنن الأقوال والأفعال )

## له دجال څخه د بچ کیدلو ( محفوظ پاتې کیدلو ) طریقه

له حضرت ابودرداء ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : څوک چې د سورة کهف لس لُمړني آیتونه حفظ ( په یادو یاد )کړي نو د دجال له فتنې څخه به په امن وي .

عَنْ اَبِيْ الدَرْدَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَالَ : مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آياتٍ مِنْ أَوَّلِ سُوْرَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ

( صحیح مسلم رقم الحدیث ۱۹۱۹ ، مسند امام احمد ابن حنبل ، الستدرک علی الصحیحین ، سنن ابي داود باب خروج الدجال )

## سورة الكهف

بسم الله الرحمن الرحيم

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا (١) قَيِّمًا لِيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِنْ لَدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا (٢) مَاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا (٣) وَيُنْذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا (٤) مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِآبَائِهِمْ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا (٥) فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ عَلَى آثَارِهِمْ إِنْ لَمْ يُؤْمِنُوا بِهَذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا (٦) إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا (٧) وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا (٨) أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا (٩) إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا (١٠)

# له اسمان څخه د عیسی ابن مریم علیهما السلام را ښکته کیدل

د عیسي ( علیه السلام ) را ښکته کیدل د اسمان څخه په قرآني آیاتونو او نبوي احادیثو باندې ثابت دي . چې اوس هم په اسمان کې دہ او ژوندی دی . په آخر وخت کې به ځمکې ته راښکته کیږي او دجال به وژني.

لکه په دې آیت شریف کې الله ( جل جلاله) فرمایلي دي : وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا (١٥٧) بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا (١٥٨) (سورة النساء )

**ترجمه** : او دا کافران وايي چې مونږ عیسي ( علیه السلام ) وژلی دی ، خو دوی عیسی ( علیه السلام ) نده وژلی او نه يې په دار کړی دی .... یقینا دوی حضرت عیسی ( علیه السلام ) نده وژلی مګر الله ( جل جلاله ) خانته ( اسمان ته ) پورته کړی دی او الله ( جل جلاله ) غالب او د حکمتونو خاوند دی .

د حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ

( صحیح مسلم باب نزول عیسی ابن مریم رقم الحدیث ٣٤٤٩ )

**ترجمه** : حضرت سعید ابن المسیب ( رحمه الله ) وايي ما له ابو هریرة ( رضي الله عنه ) څخه واوریدل چې ویل یې : رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي :

زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په واک کې ده ؛ خامخا به عیسی ( علیه السلام ) له اسمان څخه را ښکته کیږي .

بل حدیث شریف کې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لاَ يَقْبَلَهُ أَحَدٌ. ( صحیح البخاري باب قَتْلِ الْخِنْزِيرِ رقم الحدیث ٢٢٢٢ )

**ترجمه** : له ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په واک ( قبضه ) کې ده ، ډير ژر به عيسي ابن مريم ( عليهما السلام ) ستاسو په مينځ کې رانښکته شي ، د يو حاکم په صفت به عدالت کوي ، د کفري صليب علامه ( نښه ) به ماتوي ، خنزير به وژني ، په کفارو به جزيه مقرره کړي ، مال او پيسې به دومره زياتې شي چې هيڅوک به يې د صدقې په صفت نه قبلوي.

بل حديث شريف کې راځي:عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ ...وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا . ( صحيح البخاري رقم الحديث ٣٤٤٨ )

**ترجمه** : محمد ابن شهاب ( رحمه الله ) وايي چې سعيد ابن المسيب ( رحمه الله ) له ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه اوريدلي وو چې ويل يې ؛ رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په واک ( قبضه ) کې ده ، ډير ژر به عيسي ابن مريم ( عليهما السلام ) ستاسو په مينځ کې رانښکته شي ، چې په دې وخت کې به يوه سجده د دونيا او هغه څه چې په دونيا کې دي بهتره وي .

بل حديث شريف کې پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : چې د ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت شوى دى ، که چيرې له تاسو څخه څوک له عيسي ( عليه السلام ) سره ملاقات ( ليدل ) وکړي ؛ زما سلام ورباندې ووايئ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : إِنِّي لأَرْجُو إِنْ طَالَ بِي عُمُرٌ أَنْ أَلْقَى عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ ، فَإِنْ عَجِلَ بِي مَوْتٌ ، فَمَنْ لَقِيَهُ مِنْكُمْ فَلْيُقْرِئْهُ مِنِّي السَّلاَمَ.

( مسند امام احمد رقم الحديث ٧٩٥٧ ،كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال ، مجمع الزوائد )

**ترجمه** : له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : زه اميد لرم چې عمر مې لوى شي او حضرت عيسى ( عليه السلام ) سره ملاقات وکړم ، که مخکې د هغه له را ښکته کيدلو څخه مړ شوم ؛ نو که له تاسو څخه کوم يو ورسره ملاقات وکړ ؛ زما سلام ورباندې ووايئ .

عيسى ( عليه السلام ) به په آخر وخت کې له اسمان څخه را ښکته کيږي او د ملايکو په وزرونو به يې لاسونه ايښي وي : عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ : ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالَ ذَاتَ غَدَاةٍ ... إِذْ بَعَثَ اللَّهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ

( صحيح مسلم باب ذكر الدجال وصفته و ما معه رقم الحديث ٥٢٢٧ )

**ترجمه** : له حضرت نواس ابن سمعان ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) يوه ورځ د دجال په اړه خبرې کولې ، بيا يې وفرمايل : عيسى ( عليه السلام ) به يو نا څاپه د دمشق د بيت المقدس په سپينه شرق طرفته مناره باندې له اسمانه را ښکته شي ، په ګل ورس او زعفرانو رنګ شوې جامې به يې په تن وي او لاسونه به يې د ملائکو په وزرونو باندې ايښي وي .

له وينښتانو څخه به يې د ملغلرو په شان د اوبو څاڅکي څاځي .

عيسي ( عليه السلام ) به د سهار په وخت کې خلکو ته ناره وکړي چې أئ خلکو مسلمانانو: څه شي منع کړي ياست چې نه راوځئ دې خبيث دجال ته ؟؟؟

خلک به ورته ووايي چې دا يو پيری ( جن ) دی ، نو خلک به راووځي ، نو يو ناڅاپه به مسلمانان حضرت عيسي ( عليه السلام ) ويني ، نو د سهار د لمانځه اقامت به وويل شي ، عيسى ( عليه السلام ) ته به وويل شي چې أئ د الله روحه ته لمانځه ته مخکې شه ، عيسى ( عليه السلام ) به ورته ووايي چې ستاسو امام مهدي صاحب دې مخکې شي او لمونځ دې راکړي. کله چې لمونځ وکړي نو د دجال په طرف به راووځي.

کله چې دجال عيسى ( عليه السلام ) ويني نو دجال به لکه مالګه ويلي شي .

( يا به له عيسى ( عليه السلام ) سره داسې پرمختللې اسلحه – سلاح – وي چې دجال به ورباندې ويلي کړي – مؤلف )

عيسي ( عليه السلام ) به د دجال په طرف روان شي او دجال به مردار کړي.

نو په دې وخت کې به ونې او شنه بوټي هم نارې وهي چې أی عيسي ( عليه السلام ) دلته د دجال ملګری او يهودي پټ دی راشه مردار يې کړه ، د وخت په تيريدو سره به ټول يهودان ووژني .

# د حضرت عيسى عليه السلام صفات

اول ــ درميانه ( متوسط ) قد لري

دوهم ــ ښايسته چاغ بدن ( جسم ) لري

دريم ــ سور ښايسته رنګ يې دی

څلورم ــ ډير ښايسته ويښتان يې دي

پنځم ــ د سر ويښتانو به يې د اوږو مينځ ډک کړی وي ( يعنې ځنې به لري )

شپږم ــ پراخه سينه به لري.

عيسي ( عليه السلام ) ته ځکه مسيح وايي چې دی مريضان مسحه کړي ( لاس وربانديې ووهي) جوړيږي.

او يا دا چې دا هدايت کونکی دی يا دا معنا چې دي له موره پيدا شوی نو ممسوح بالدهن( غوړ شوی ) پيدا شوی دی يا دا معنا چې ځمکه به مسح( مزل) کوي.

عيسي ( عليه السلام ) د دمشق په شرق کې په مناره بيضاء ( سپينه مناره ) د سهار د لمانځه په وخت را ښکته کيږي. مسلمانان به ورته ووايي چې لمانځه ته مخکې شه او ته مونږ ته لمونځ راکړه . عيسي ( عليه السلام ) به ورته وايي چې خپل امام ( امام مهدي صاحب ) مخکې کړئ چې لمونځ راکړي ؛ عيسی ( عليه السلام ) به هم د امام مهدي صاحب په اقتدا کې لمونځ وکړي.

عيسي ( عليه السلام ) به د دجال په طرف روان شي او د ــ لُد ــ دروازې سره چې بيت المقدس سره نزدې موقيعت لري هلته به دجال مردار کړي : عَنْ ذَكْوَانَ أبي صَالِحٍ ، أَنَّ عَائِشَةَ اخْبَرَتْهُ قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانَا ابْكِي ، فَقَالَ لِي .... حَتَّى يَأْتِيَ فِلَسْطِينَ بَابَ لُدٍّ ، فَيَنْزِلَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ فَيَقْتُلَهُ

( مسند امام احمد رقم الحديث ٢٤٩٧١ )

د لد دروازه له بيت المقدس سره نږدې موقيعت لري : باب اللد: بلدة معروفة مشهورة قريبة من بيت المقدس بينها وبين رملة فلسطين فرسخ الى جهة الشمال.

(إسعاد الأخصًا بذكر صحيح فضائل الشام والمسجد الأقصى )

نو په دې وخت کې به ونې او شنه بوټي هم نارې وهي چې أئ عيسي ( عليه السلام ) دلته د دجال ملګرى او يهودى پټ دى راشه مردار يې کړه ، نو ټول يهودان به ووژني : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ .... فَيُدْرِكُهُ عِنْدَ بَابِ لُدٍّ الشَّرْقِيِّ فَيَقْتُلَهُ ، فَلاَ يَبْقَى شَيْءٌ مِمَّا خَلَقَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَتَوَارَى بِهِ يَهُودِيٌّ ، لا شَجَرَ ، وَلا حَجَرَ إِلا أَنْطَقَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ذَلِكَ الشَّيْءَ ، لا شَجَرَ وَلا حَجَرَ ، إِلا قَالَ : يَا عَبْدَ اللهِ الْمُسْلِمَ ، هَذَا يَهُودِيٌّ فَاقْتُلْهُ
( الاحاد والمثاني رقم الحديث ١٢٤٩ ، مسند الروياني )

د عيسي ( عليه السلام ) په وخت کې به بارانونه ، برکتونه ، اوبه ، حاصلات او ميوې زيات شي.

کينه ، حسد ، او بغض به د خلکو له زړونو څخه لرې شي . ډير د دوستۍ او خوشحالۍ ژوند به وي . ډير زيات امنيت ، سکون او اطمنان به وي ، خلک به مطمئن او په امن کې وي.

حتا ماشوم به له زمري سره لوبې کوي او هيڅ ضرر به ورته نه رسوي زمريان به له اوښانو سره ، ليوان به له ميږو ( پسونو) سره په يوځای څريګي ( ګرځي )لکن ضرر به نه ورته رسوي . دا کارونه به ټول د عيسي ( عليه السلام ) د عدالت او برکت نښه وي . سبحان الله :

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَكَانَ أَكْثَرَ خُطْبَتِهِ مَا يُحَدِّثُنَا عَنِ الدَّجَّالِ وَيُحَذِّرُنَاهُ ، ... وَيَلْقَى الْوَلِيدَةَ الأَسْدُ فَلاَ يَضُرُّهُ ، وَيَكُونُ فِي الإِبِلِ كَأَنَّهُ كَلْبُهَا ، وَيَكُونُ الذِّئْبُ فِي الْغَنَمِ كَأَنَّهُ كَلْبُهَا ، وَتُمْلأُ الأَرْضُ مِنَ الإِسْلامِ ، وَيَسْلُبُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ الْكُفَّارَ مُلْكَهُمْ ، فَلاَ يَكُونُ مُلْكٌ إِلا الإِسْلاَمَ ، وَتَكُونُ الأَرْضُ كَنَاثُورِ الْفِضَّةِ ، تُنْبِتُ نَبَاتَهَا كَمَا كَانَتْ تُنْبِتُ عَلَى عَهْدِ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ . ( الاحاد والمثاني رقم الحديث ١٢٤٩ ، جامع الاحاديث ، سنن ابن ماجة )

عيسي ( عليه السلام ) به د پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) په شريعت عمل کونکی وي او د اسلام د دين احکام به جاري کوي او د پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) په شريعت به د يوه امتي په حيث فيصلې او حکمونه کوي .

په ځمکه کې به اوو ۷ کاله عيسي ( عليه السلام ) ژوندی پاتې کيږي او بيا به وفات شي : فَيَبْعَثُ اللهُ عِيسَي ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُوْدٍ فَيطْلُبُهُ فَيهْلِكُهُ ثُمَّ يمْكُثُ النَّاسُ سَبْعَ سِنِينَ ، ( صحيح مسلم باب في خروج الدجال و مكثه في الأرض ونزول عيسي عليه السلام و قتله اياه ، رقم الحديث ۷۵۶۸ )

په بعضو رواياتو کې ۴۰ کاله راغلي دي په بعضو کې اوو ۷ کاله ، نو تطبيق يې دا سې کوو: چې عيسي ( عليه السلام ) کله اسمان ته پورته کيده ، نو دري ديرش ۳۳ کلن وو: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ ؛ قَالَ : رُفِعَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلامُ وَهُوَ ابْنُ ثَلاثٍ وَثَلاثِينَ سَنَةً . ( المستدرک على الصحيحين رقم الحديث ۵۱۷۳ ، دلائل النبوة للبيهقي )

او په همغه عمر يعني دري ديرش ۳۳ کلن به ځمکې ته راښکته کيږي . نو اوو ۷ کاله به ژوندی وي . نو ۳۳ کاله مخکې له اسمان ختلو څخه په ځمکه کې اوسيدلی وو او اوو ۷ کاله نور ، نو دا ټول څلويښت ۴۰ کاله اوسيدل شو .

او بله خبره دا چې مونږ د عيسی ( عليه السلام ) په ۷ کاله پس له اسمان را ښکته کيدلو باندې د صحيح مسلم دا حديث دليل لرو :

فَيَبْعَثُ اللهُ عِيسَي ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُوْدٍ فَيطْلُبُهُ فَيهْلِكُهُ ثُمَّ يمْكُثُ النَّاسُ سَبْعَ سِنِينَ ( صحيح مسلم باب في خروج الدجال و مكثه في الأرض ونزول عيسي و قتله اياه ۷۵۶۸ )

تر څو چې عيسي( عليه السلام ) د ځمکې په سر وي نو کافران به نه وي :

لَا يَبْقَى عَلَى وَجْه الْأَرْض كَافِر مَا دَامَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَام حَيًّا فِي الْأَرْض

( عون المعبود شرح سنن ابي داؤد باب في دوام الجهاد ، مرقاة المفاتيح كتاب الجهاد )

د عيسي ( عليه السلام ) له مرګ څخه وروسته به بعضې خلک کافر شي . د يو څه وخت وروسته به يو نرم باد را ولګيږي او ټول مؤمنان به ددې باد په واسطه وفات شي.

او په ځمکه کې به صرف کافران پاتې شي ، په دې وخت کې به د ځمکې په سر دومره څوک پاتې نشي چې الله ( جل جلاله ) ياد کړي ، نو په دې وخت کې به قيامت قايم شي : أن الساعة لا تقوم إلا على شرار الناس ويجاب بجواز أن يرتد

بعضهم بعد موت عيسى وترسل الريح فتقبض روح كل مؤمن ومؤمنة فحينئذ فلا يبقى إلا الشرار . ( فتح الباري باب ما جاء في اسماء الرسول الله ، شرح الزرقاني على مؤطا الامام مالک )

" لا تقوم الساعة حتى لا يقال في الأرض الله الله " ( صحيح مسلم )

إذ بعث الله ريحا طيبة فتأخذهم تحت آباطهم فتقبض روح كل مؤمن وكل مسلم ويبقى شرار الناس يتهارجون تهارج الحمر فعليهم تقوم الساعة .

( حاشية الدرة مضية في عقد الفرقة مرضية فصل في اشراط الساعة )

فقد أخرج الإمام أحمد ، ومسلم من حديث ابن عمرو رضي الله عنهما ، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : تجيء بعد موت عيسى عليه السلام ريح باردة من قبل الشام فلا تبقي على وجه الأرض أحدا في قلبه مثقال ذرة من إيمان إلا قبضته

(لوامع الأنوار البهية وسواطع الأسرار الأثرية لشرح الدرة المضية في عقد الفرقة المرضية )

عيسي ( عليه السلام ) به د پیغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) او د یارانو په څنګ کې به دفن کیږي: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ مَكْتُوبٌ فِي التَّوْرَاةِ صِفَةُ مُحَمَّدٍ وَصِفَةُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ ، فَقَالَ أَبُو مَوْدُودٍ وَقَدْ بَقِيَ فِي الْبَيْتِ مَوْضِعُ قَبْرٍ . ( سنن الترمذي كتاب المناقب باب في فضل النبي صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ٣٩٧٧ )

يدفن عيسى مع رسول الله صلى الله عليه و سلم وأبي بكر وعمر فيكون قبرا رابعا

( عمدة القاري باب ما جاء في قبر النبي صلى الله عليه وسلم ، فتح الباري )

او پس له عیسي ( عليه السلام ) څخه به نورې د قيامت نښې ډیر په سرعت ( تیزوالي ) سره یو په بل پسې راځي . لکه لمر د مشرق څخه راختل ، دابة الأرض ، دخان ( لوګی ، دود ) او اور د عدن څخه یا هغه نرم باد چې د مسلمانانو روحونه قبضوي .

په اصل کې دا دوه قبیلې دي ، د الله ( جل جلاله ) مخلوق دي.
که د اَجَّ څخه مشتق شي د سرعت او منډې په معنا دي او که د اُجَاج څخه مشتق شي د تروشو اوبو په معنا دي او که د اُجّتِ النّار څخه مشتق شي د ډيريدونکي اور په معنا دي . ( القاموس المحيط باب الجيم فصل الهمزة ص ۲۲۹ )
دوی د نوح ( عليه السلام ) د خوی يافث اولاده دي او انسانان دي ، خو بيشميره دي او شمير يې يوازې الله ( جل جلاله ) ته معلوم دي. دومره زيات دي چې په زرو نفرو کې به ۹۹۹ ياجوج ماجوج دوزخ ته ځي او يو به په مقابل کې ددې امت څخه جنت ته ځي . والله اعلم
عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا آدَمُ يَقُولُ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ فَيُنَادَى بِصَوْتٍ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُخْرِجَ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ بَعْثًا إِلَى النَّارِ قَالَ يَا رَبِّ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ – أُرَاهُ قَالَ – تِسْعَمِئَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ فَحِينَئِذٍ تَضَعُ الْحَامِلُ حَمْلَهَا وَيَشِيبُ الْوَلِيدُ {وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ} فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى النَّاسِ حَتَّى تَغَيَّرَتْ وُجُوهُهُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ تِسْعَمِئَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ وَمِنْكُمْ وَاحِدٌ . ( صحيح البخاري باب وترى الناس سكارى رقم الحديث ۴۷۴۱ ، صحيح مسلم باب قَوْلِهِ يَقُولُ اللَّهُ لآدَمَ أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ )
ياجوج او ماجوج د نوح ( عليه السلام ) له اولاد څخه دي چې د نسب سلسله يې داسې ده :

د نوح عليه السلام اولاد

| | | | |
|---|---|---|---|
| دحام اولاد | بربر | القبط | السودان |
| د يافث اولاد | ياجوج ماجوج | ترک | الصقالبة ) ولاخيرفيهم( |
| د سام اولاد | عرب | فارس | روم ) والخير فيهم |

ولد نوح ثلاثة سام وحام ويافث فولد سام العرب وفارس والروم والخير فيهم وولد يافث يأجوج ومأجوج والترك والصقالبة ولا خير فيهم وولد حام بربر والقبط والسودان
(جامع الاحاديث رقم الحديث ۲۵۳۱۱،جمع الجوامع ، مسند البزار، كنزالعمال في سنن الأقوال والأفعال )

د ياجوج ماجوج وړې سترګې ، پلنه پوزه ، زيړ ويښتان سورچکي پلن لکه سپر په شان مخونه ، شکل او رنګ يې د ترک د خلکو په شان دی :
امام قرطبي ( رحمه الله ) وايي چې ياجوج ماجوج د چارپايانو په څير واښه خوري لکه د ځناور په شان اهلي او وحشي حيوانات څيروي ، حشرات لکه مار لړم او هر زيروح له مخلوقاتو څخه خوري ، هيڅ مخلوق په ځمکه کې د دوی په شان په کال کې نه ډيريږي:
وَهُمْ أَشْبَاهُ الْبَهَائِمِ ، يَأْكُلُونَ الْعُشْبَ ، وَيَفْتَرِسُونَ الدَّوَابَّ وَالْوُحُوشَ كَمَا تَفْتَرِسُهَا السِّبَاعُ ، وَيَأْكُلُونَ خَشَاشَ الأَرْضِ كُلَّهَا مِنَ الْحَيَّاتِ وَالْعَقَارِبِ ، وَكُلَّ ذِي رُوحٍ مِمَّا خَلَقَ اللَّهُ فِي الأَرْضِ ، وَلَيْسَ لِلَّهِ خَلْقٌ يَنْمُى نَمَاءَهُمْ فِي الْعَامِ الْوَاحِدِ ، وَلاَ يَزْدَادُ كَزِيَادَتِهِمْ
( جامع البيان في تاويل القرآن – تفسير قرطبي سورة كهف )
امام طبري ( رحمه الله ) وايي : کله چې ذوالقرنين د هغوی ښار ته ورغی نو ويې ليدل چې ښځې او نر يې يو اندازه دي ، قدونه يې زمونږ د قدونو نيمايي دي :
فَوَجَدَهُمْ عَلَى مِقْدَارٍ وَاحِدٍ ، ذَكَرُهُمْ وَأُنْثَاهُمْ ، يَبْلُغُ طُولِ الْوَاحِدِ مِنْهُمْ مِثْلُ نِصْفِ الرَّجُلِ الْمَرْبُوعِ مِنَّا ، لَهُمْ مَخَالِبُ فِي مَوْضِعِ الأَظْفَارِ مِنْ أَيْدِينَا . ( تفسير الطبري )
په لاسونو کې د نوکانو په ځای پنجالې دي ، غاښونه يې دحيواناتو په شان دي ، خوراک لکه د اوښ او د اسپ په شان کوي ، هماغسې ششنيږي ، په بدنونو يې ويښتان دي چې د ويښتانو په واسطه پټ دي :
لَهُمْ مَخَالِبُ فِي مَوْضِعِ الأَظْفَارِ مِنْ أَيْدِينَا ، وَأَضْرَاسٌ وَأَنْيَابٌ كَأَضْرَاسِ السِّبَاعِ وَأَنْيَابِهَا ، وَأَحْنَاكٌ كَأَحْنَاكِ الإِبِلِ قُوَّةً تُسْمَعُ لَهَا حَرَكَةٌ إِذَا أَكَلُوا كَحَرَكَةِ الْجِرَّةِ مِنَ الإِبِلِ ، أَوْ كَقَضْمِ الْبغلِ الْمُسِنِّ ، أَوِ الْفَرَسِ الْقَوِيِّ ، وَهُمْ هُلْبٌ ، عَلَيْهِمْ مِنَ الشَّعْرِ فِي أَجْسَادِهِمْ مَا يُوَارِيهِمْ ، وَمَا يَتَّقُونَ بِهِ الْحَرَّ وَالْبَرْدَ إِذَا أَصَابَهُمْ . ( تفسير الطبري )
**زما نظر** : ما ډيره پلټنه وکړه چې د پورتنيو مفسيرينو د عبارتونو په شان کوم عبارت د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) د احاديثو پيدا کړم ، نو له ډير کوشش او پلټنې وروسته بيا هم پيدا نشو ، حتا د مفسيرينو د عبارتونو يو لفظ هم په احاديثو کې پيدا نشو

نو اوس به راشو د اوسني پرمختللي او څېړل شوي عصر په اساس به خبرې وکړو ؛ هغه دا چې نن زمان کې د ځمکې ټوله کُرَه کتل شوې او په هيوادونو تقسيم شوې ده ، خو تر اوسه داسې جغرافيايي خبر نده ورکړل شوی چې داسې مخلوق دې په کوم هيواد کې ژوند کوي لکه پورته عبارتونو کې او نورو مفسيرينو او علماؤو چې د ياجوج ماجوج په هلکه ويلي دي . لکه ( غوږونه يې دومره لوی دي چې په يوه باندې ځملي او بل په ځان د پاسه اچوي يا وابنه خوري يا لړمان او نور خزندګان خوري ، يا يې قدونه يو متر دي ، مګر کولای شو ووايو چې اوس وخت کې انسانان هم انسانان ، ماران ، لړمان ، چينګښې او شنه وابنه هم خوري لکه چينايان او لکه کماندويان ، او دا هم کيدای شي چې دا د کوم هيواد ميليوني کماندو فوج وي چې هيڅوک يې د مقابلې طاقت نلري .
لکه څرنګه چې حديث کې يادونه شوې ده ، او د طبريه بحيره ګې د ټولو اوبو څښلو خبره داسې ده چې هغه وخت کې به سخته وچکالي وي او په هغه وخت کې به په دې بحيره کې ډيرې کمې اوبه وي نو دا ميليوني کماندو فوج به يې وڅښې ، بحيره طبريه په اردن کې ده چې شام ( فلسطين او سوريه ) ته نږدې موقيعت لري .
دا کيدای شي د کوم قدرت مند هيواد ميليونونه کماندو ځواکونه وي چې نوم يې کيدای شي ياجوج ماجوج ورباندې کيږدي لکه اوس چې په نظامي ډلګيو باندې نومونه کيښودل کيږي لکه تندر ، شاهين ، تور ښامار او داسې نور
زما نظر دا هم دی چې کيدای شي دا د ( ياجونګ ماجونګ ) په نوم د چين هيواد اتومي کماندو ځواکونه وي ، چې هيڅوک يې د مقابلې طاقت نلري ، نو د عيسی ( عليه السلام ) په دُعا به يې الله ( جل جلاله ) هلاک کړي
لکه د حبشي کافر بادشاه فوج اصحاب فيل چې الله ( جل جلاله ) په مرغانو هلاک کړل نو دوی به هم الله ( جل جلاله ) هلاک کړي ، په دې وخت کې به عيسی ( عليه السلام ) په شام کې د طور غره سره وي چې دا ياجوج او ماجوج به را څرګنديږي . ( د ليکوال نظر )
والله أعلم بحقائق الأمور

صحیح روایت وایي چې دوی ډیر قوي خلک دي او هیڅوک یې د مقابلې طاقت نلري چې مقابله ورسره وکړي : إِذْ أَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ : يَا عِيسَى إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي ، لاَ يَدَانِ لأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ . ( صحیح مسلم باب ذِكْرِ الدَّجَّالِ وَصِفَتِهِ وَمَا مَعَهُ رقم الحديث ٧٥٦٠، سنن الترمذي ، سنن ابن ماجة )

کله چې دوی سد ( دیوال ، حایل ، مانع ) مات کړي او را ووځي نو په ځمکه کې به فسادونه شروع کړي . دغه دیوال ذوالقرنین ورته کړی دی چې ددوه غرونو په مابین کې دی چې په ډیر لوړ کیفیت او ډیر قوي دیوال له فولادو څخه جوړ کړی دی

چې لومړي یې اوسپنه پکې استعمال کړې ده او بیا یې مس ذوب ( ویلي ) کړي دي او دا دیوال یې وربانديې کلک کړي دي.

او دا دیوال معلوم نده چې چیرته ده ، او علماء پکې مختلفې نظریې لري ، څوک وایي چې دا په ترمذ کې باب الحدید په نوم ده ، څوک وایي چې د چین مشهور دیوال ده چې ٦٠٠٠ کیلومتره ده ، څوک وایي چې په شمال کې ده چې اتیا ٨٠ کیلومتره اوږدوالي لري ، او داسې نورې نظریې ...

ددې سد ( دیوال ) د ورانیدو په باره کې علماء مختلفې نظریې لري لکن صحیح خبره داده چې دا به قیامت ته نیژدې ماتیږي او تر اوسه مات شوی نده او وروسته د عیسي ( علیه السلام ) د رانبکته کیدو څخه به ماتیږي.

کله چې یاجوج ماجوج را ووځي نو په ځمکه کې به فسادونه شروع کړي . هیڅوک به د دوی مقابله نشي کولای . ثابت احادیث وایي چې هغه مسلمانان چې له عیسي ( علیه السلام ) سره د دجال له فتنې څخه په امن ( بچ ، محفوظ ) پاتې شوي دي هغوی به محاصره کړي .

بیا به عیسي ( علیه السلام ) الله ( جل جلاله ) ته دُعا وکړي . الله ( جل جلاله ) به یو قسم چینجي وربانديې مقرر کړي چې د یاجوجو ماجوجو په غوړونو کې به ننوځي او ټول به هلاک کړي . بیا به دونیا بدبویه کړي او خلک به د بدبویي څخه ډیر تنګ شي بیا به عیسي ( علیه السلام )او ملګري یې الله ( جل جلاله ) ته دُعا وکړي بیا به الله ( جل جلاله ) مرغان وربانديې مقرر کړي او چیرته چې د الله ( جل جلاله ) خوښه وي

هلته به يې يوسي ، بيا به الله ( جل جلاله ) باران وكړي او ټوله ځمكه به ووينځي بيا به ځمكه ځېل بركتونه ظاهر كړي كله چې په بحيره طبريه تيريږي د هغې اوبه به وڅښي :
فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُونَ لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ . ( صحيح مسلم باب ذِكْرِ الدَّجَّالِ وَصِفَتِهِ وَمَا مَعَهُ رقم الحديث ٢٩ ٣٧ )
خلكو كې مشهور ده چې د ټولې دونيا اوبه به وڅښي ، خو ، نه دا خبره سمه نده ځكه په حديث كې يوازې بحيره طبريه يادونه شوې ده
لكه له دې حديث څخه هم معلوميږي چې هغه وخت كې به سخته وچكالي وي : عن ابن مسعود قال: "أيها الناس! لا تكرهوا مد الفرات فإنه يوشك أن يلتمس فيه طس من ماء فلا يوجد، وذلك حين يرجع كل ماء إلى عنصره فيكون الماء وبقية المؤمنين يومئذ بالشام .
(كنزالعمال فى سنن الاقوال والافعال )
**ترجمه** :له حضرت عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې فرمايلي يې دي : ای خلكو د فرات د درياب ډكوالی بد مه ګڼئ ، زر ده چې داسې وخت به راشي چې يو طشت اوبه به پكې نه وي ، په دې وخت كې به مسلمانان په شام كې محاصره وي .
له دې حديث څخه هم معلوميږي چې د ياجوج ماجوج په وخت كې به سخته وچكالي وي ، هغه بحيره طبريه چې ټوله وڅښي ، معنا دې وخت كې به اوبه پكې كمې وي : والله اعلم .
كله چې راووځي نو خلک به ورڅخه تښتي . آخر به د آسمان طرفته غشي ګذار كړي . الله ( جل جلاله ) به هغه غشي ورته په سره رنګ كړي او بيرته به ورته را ولويږي . دوی به وايي چې د ځمكې اوسيدونكي مو پسې واخيستل اوس مو د اسمان په اهل هم غلبه پيداكړه: فَيَرْمُونَ بِسِهَامِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ ، فَتَرْجِعُ وَعَلَيْهَا كَهَيْئَةِ الدَّمِ ، فَيَقُولُونَ : قَهَرْنَا أَهْلَ الأَرْضِ ، وَعَلَوْنَا أَهْلَ السَّمَاءِ . ( مسند امام احمد ابن حنبل واللفظ له رقم الحديث ١٠٦٤٠ ، المستدرک على الصحيحين ، سنن ابن ماجة )

## د لمر راختل له مغرب څخه

د حضرت ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی ؛ چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : قيامت نه راځي تر څو چې لمر د مغرب ( لويديځ ) له طرف څخه نه وي را ختلی .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا
( صحيح مسلم باب بيان الزمن الذي لا يقبل فيه الايمان رقم الحديث ٤١٣ ، صحيح البخاري )

## د ځمکې څخه خبرې کونکې حيوان راوتل ( ظهور دابة الارض )

له حضرت ابو هريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : دابة الأرض به را ووځي ، د سليمان ( عليه السلام ) ګوته ( انګشتري ) او د موسي( عليه السلام ) عصا ( امصا ، لکړه ) به هم ورسره وي ، د موسي ( عليه السلام ) په عصا ( امصا، لکړه ) به د مؤمن مخ مسحه کوي چې د مؤمن مخ به ورسره سپين کيږي او د سليمان ( عليه السلام) په ګوته سره به د کافر په تندي يا پوزه د کفر مهر ( ټاپه ) لګوي ، حتا په خپلو ټولنو کې به يو بل ته وايي چې اې مؤمنه او اې کافره . ( يعنې کافر او مسلمان په معلومدار پيژندل کيږي )
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : تَخْرُجُ الدَّابَّةُ وَمَعَهَا خَاتَمُ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ ، وَعَصَا مُوسَى بْنِ عِمْرَانَ ، عَلَيْهِمَا السَّلَامُ ، فَتَجْلُو وَجْهَ الْمُؤْمِنِ بِالْعَصَا ، وَتَخْطِمُ أَنْفَ الْكَافِرِ بِالْخَاتِمِ ، حَتَّى أَنَّ أَهْلَ الْحِوَاءِ لَيَجْتَمِعُونَ ، فَيَقُولُ هَذَا : يَا مُؤْمِنُ وَيَقُولُ هَذَا : يَا كَافِرُ. ( سنن ابن ماجة واللفظ له كتاب الفتن بَابُ دَابَّةِ الأَرْضِ رقم الحديث ٤٠٦٦ ، سنن الترمذي ، مسند الطيالسي ، المستدرک علی الصحيحين ، مسند امام احمد ابن حنبل ، مسند اسحاق ابن راهويه )

د قيامت د علامو څخه دابة الأرض ( د ځمکې څخه راوتونکی حيوان ) چې په آخر وخت کې به راوځي راوتل يې په قرانکريم هم ثابت دي.

د قرانکريم آيت شريف دي : وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ (٨٢) ( ٢٧ پاره ، سورت نمل ، آيت ٨٢ )

**ترجمه** : کله چې د قيامت وخت را نزدې شي ، يوحيوان به له ځمکې څخه خلکو ته را وباسو ، چې خلکو سره به خبرې کوي ، رښتيا هم خلک زمونږ په آياتونو ايمان نلري.

وقال ابن عمر وأبو سعيد الخدري ( رضي الله عنهما ) : إذا لم يأمروا بالمعروف وينهوا عن المنكر وجب السخط عليهم. ( تفسير القرطبي ، تفسير سورة النمل ، ٨٢ آيت )

**ترجمه** : عبدالله ابن عمر او ابو سعيد خدري ( رضي الله عنهم ) وايي چې دا دابة الأرض به هغه وخت را وځي چې کله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر بلکل ختم شي

او عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) وايي : وقال عبد الله بن مسعود: وقع القول يكون بموت العلماء، وذهاب العلم، ورفع القرآن. قال عبد الله: أكثروا تلاوة القرآن قبل أن يرفع، قالوا هذه المصاحف ترفع فكيف بما في صدور الرجال؟ قال: يسرى عليه ليلا فيصبحون منه قفرا، وينسون لا إله إلا الله، ويقعون في قول الجاهلية وأشعارهم، وذلك حين يقع القول عليهم . ( تفسير القرطبي ، تفسير سورة النمل ٨٢ آيت )

عبدالله ابن مسعود ( رضي الله عنه ) فرمايي: د وقع القول څخه د علماؤو مرګ مراد دی ، کله چې علماء ختم شي او قرآنکريم پورته شي د حافظانو په سينه باندې به شپه نه وي تيره شوي چې قرانکريم به يې له حافظو ( ذهن ) څخه ووځي او هيڅ آيت حتا لااله الاالله به هم ورته په ياد پاتې نشي ،کله چې دا حالت د خلکو په مينځ کې راشي ، نو يوه دابة الأرض ( د ځمکې څخه راوتونکي حيوان ) به د ځمکې په سر را پيداشي چې خلکو سره به خبرې کوي.

په دې کې هم د مفسيرينو اختلاف دی :

له عبدالله ابن زبير ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې دا حيوان داسې پيدا شوي چې هر اندام يې د جدا جدا حيوانانو په شان دي .( تفسير روح المعاني سورة النمل ٨٢ آيت )

مګر حضرت علي رضي الله عنه بيا قسم کوي چې دا دابه لکۍ نلري او دا دابه يو انسان دى ، او متاخرين مفسيرين علماءکرام فرمايي چې دا دابه يو انسان دى چې له کفارو او بدعتيانو سره به خبرې او جنګونه کوي :

عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه أنه سئل عن الدابة فقال : أما والله ما لها ذنب وإن لها للحية قال الماوردي : وفي هذا القول منه إشارة إلى أنها من الإنس وإن لم يصرح به قلت : ولهذا – والله أعلم – قال بعض المتأخرين من المفسرين : إن الأقرب أن تكون هذه الدابة إنسانا متكلما يناظر أهل البدع والكفر ويجادلهم
( تفسير قرطبي سورة النمل ٨٢ آيت )

(( د حضرت علي ( رضي الله عنه ) قول قوي او قناعت کونکی ښکاري . او بله خبره دا هم ده چې حضرت علي ( رضي الله عنه ) د مديني منورې له فقهاوو څخه وو ، علماء کرام هم د حضرت علي ( رضي الله عنه ) په علم قانع دي لکه امام نووي صيب ( رحمه الله ) په خپل کتاب کې ليکلي دي :

د ټولو اصحاب کرامو ( رضي الله عنهم ) علم په شپږو صحابوو کې را ټول شوى وو بيا دشپږو صحابوو علم دوه صحابوو (( حضرت علي رضي الله عنه او حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه )) صيب کې وو .

قَالَ النَّوَوِيُّ فِي التَّقْرِيبِ : وَعَنْ مَسْرُوقٍ أَنَّهُ قَالَ : انْتَهَى عِلْمُ الصَّحَابَةِ إِلَى سِتَّةٍ : عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَأُبَيٍّ وَزَيْدٍ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَابْنِ مَسْعُودٍ ، ثُمَّ انْتَهَى عِلْمُ السِّتَّةِ إِلَى عَلِيٍّ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ . (التقريب والتيسير لمعرفة سنن البشير النذير النوع التاسع والثلاثون معرفة الصحابة رضي الله عنهم )

نو ځکه دده خبره متأخرينو علماؤو هم تأييد کړې ده او زما هم همدا خوښه ده چې ومنل شي ، والله أعلم بحقائق الأمور – ليکوال )

د (( دابة )) معنا دا دى چې په ځمكه ګرځيدونكى ؛ نو په دې كې انسان هم راځي ځكه په ځمكه ګرځي او حيوان په دوه قسمه دى ، حيوان ناطق او حيوان غير ناطق

نو انسان حيوان ناطق دى او دابة هم ده نو نتيجه دا شوه چې انسان (( دابة الناطق )) دى .

لكه په دې روايت كې هم اشاره ورته شوي ده :

وعن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا تقوم الساعة حتى يخرج رجل من قحطان يسوق الناس بعصاه . ( رواه الإمام أحمد، والشيخان، وإسناد أحمد إسناد مسلم )

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَالَ : لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ. ( صحيح البخاري كتاب بدء الوحي رقم الحديث ٣٥١٧ )

د راوتلو په ځاى كې هم اختلاف دى : خو اكثره علماء كرام فرمايي چې دابة الأرض به له مسجد الحرام مكه مكرمه صفا څخه ځانبت يا غرمې ته نزدې وخت كې راوځي

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ حَدِيثًا .... وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى

دا به په داسې وخت كې راوځي چې حضرت عيسي ( عليه السلام ) او مسلمانان به په طواف كولو مشغول وي :

وروي في خبر عن النبي ( صلى الله عليه و سلم ) : إن الأرض تنشق عن الدابة وعيسى عليه السلام يطوف بالبيت ومعه المسلمون من ناحية المسعى وأنها تخرج من الصفا ( تفسير القرطبي سورة النمل ٨٢ آيت )

همدا خبره قوي ښكاري ځكه مهدي ابن عمران وايي چې د ابوطفيل څخه پوښتنه وشوه چې دا حيوان به له كوم ځاى څخه راوځي نو وېې ويل چې د صفا يا مروا له غونډۍ څخه به راوځي : وَحَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ بَكْرُ بْنُ خَلَفٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ أَحْمَدَ قَالَا:

ثنا عُمَرُ بْنُ سَهْلٍ قَالَ: ثنا مَهْدِيُّ بْنُ عِمْرَانَ قَالَ: سُئِلَ أَبُو الطُّفَيْلِ وَأَنَا عِنْدَهُ، فَقِيلَ لَهُ: مِنْ أَيْنَ تَخْرُجُ الدَّابَّةُ ؟ فَقَالَ: بَلَغَنِي أَنَّهَا تَخْرُجُ مِنَ الصَّفَا أَوِ الْمَرْوَةِ "
( اخبار مكة للفاكهي باب ذكر الدابة وخروجها و من أين تخرج من مكة رقم الحديث ۲۳۶۰ ، عقدالدرر في اخبار المنتظر ، تحفة الأحوذي )

او عبدالله ابن عمر ( رضي الله عنهما ) هم وايي چې : فقال عبد الله بن عمر: تخرج من جبل الصفا بمكة، يتصدع فتخرج منه. قال عبد الله ابن عمرو نحوه وقال: لو شئت أن أضع قدمي على موضع خروجها . ( تفسير القرطبي سورة النمل ، آيت ۸۲ )

عبدالله ابن عُمَر ( رضي الله عنهما ) فرمايي چې دا به له مکې مکرمې صفا غونډۍ څخه راوځي او حتا عبدالله ابن عَمَر ( رضي الله عنه ) وايي چې که غواړئ چې زه هغه ځای هم درته په صفا غونډۍ کې وښايم چې دا حيوان به ورڅخه راوځي .

والله أعلم بحقائق الأمور

## دود ( لوګی ) راتلل

حضرت حذيفة ( رضي الله عنه ) له رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) څخه روايت کوي چې د قيامت يوه نښه داده چې يو لوګی به راشي او د ځمکې او اسمان تر منځ به ودريږي او ۴۰ ورځې به وي ، په مسلمانانو به د عادي زکام په شان تير شي او کافران به سخت په تکليف کړي ( دا لوګی ، دود به يې له پوزې ، سترګو او غوږونو څخه را وځي .

عن حُذيْفة عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال : إنَّ من أشْراط السَّاعَة دُخاناً ملأ ما بين المشْرق والمغْرب . يَمْكُثُ في الأرْض أربعين يوماً . أمَّا المؤمنُ فيُصيبُهُ منهُ شبْهُ الزُّكام . وأمَّا الكافرُ فيكونُ بمنزلَة السَّكْران . يخرُجُ الدُّخانُ من أنْفه ومَنْخَره وعَيْنَيْه وأُذُنيْه ودُبُره . ( احاديث فى الفتن والحوادث بابُ من أشْراطِ السَّاعَة الدُّخان )

## را الوتل د نرم باد له یمن یا شام له طرف څخه

عبدالله ابن عَمَر ( رضي الله عنهما ) فرمایي چې قیامت نه به مخکې یو باد راشي د مسلمانانو روحونه به قبض کړي حتا که د چا په زړه کې یوه زره ایمان هم وي .

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَبْعَثَ اللَّهُ رِيحًا لاَ تَدَعُ أَحَدًا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ تُقًى أَوْ نُهًى إِلاَّ قَبَضَتْهُ

( المستدرک علی الصحیحین رقم الحدیث ۸۴۰۷ ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

په بل روایت کې راځي چې : عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ رِيحًا مِنَ الْيَمَنِ أَلْيَنَ مِنَ الْحَرِيرِ فَلاَ تَدَعُ أَحَدًا فِى قَلْبِهِ – قَالَ أَبُو عَلْقَمَةَ مِثْقَالُ حَبَّةٍ وَقَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ – مِنْ إِيمَانٍ إِلاَّ قَبَضَتْهُ . ( صحیح مسلم باب في الریح التي تکون قرب القیامة تقبض من في قلبه شئ من الایمان ۳۲۷)

**ترجمه** : له حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : الله ( جل جلاله ) به د یمن له طرفه یو نرم باد ( هوا ) چې له وریښمو څخه هم نرم دی را والوځي ، ټول مسلمانان او هر هغه څوک چې د یوې زرې په اندازه یې هم ایمان په زړه کې وي روح به یې قبض کړي

او په ځمکه کي به مفسدین او شریر خلک پاتې شي ، نو په دې وخت کې به دومره څوک پاتې نشي چې د الله ( جل جلاله ) نوم یاد کړي نو په دې وخت کې به په همدغو کافرانو قیامت قایم شي.

## د قرانکریم پورته کیدل اسمان ته

له حضرت عبدالله ابن عمر ابن العاص ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې : د قیامت له نښو څخه یوه دا ده چې قرانکریم هغه ځای ( عرش ) ته پورته شي چې له کوم ځای ( عرش ) څخه راغلی دی ، د عرش څخه ګرچاپیر به ګرځي ، الله ( جل جلاله ) به ورته ووايي ؛ څه خبره ده ؟؟؟

قرآنکریم به ورته ووايي ؛ له تا څخه لیږل شوی ووم او اوس بیرته تاته راغلم ، خلکو به لوستلم مګر عمل به يې نه راباندې کاوه .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَرْجِعَ الْقُرْآنُ مِنْ حَيْثُ نَزَلَ ، لَهُ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ ، يَقُولُ : يَا رَبِّ مِنْكَ خَرَجْتُ وَإِلَيْكَ أَعُودُ ، أُتْلَى وَلاَ يُعْمَلُ بِي ، أُتْلَى وَلاَ يُعْمَلُ بِي.

( الرد على الجهمية واللفظ له رقم الحديث ٣۴٣ ، كنز العمال في سنن الاقوال والافعال ، جامع الاحاديث ، جمع الجوامع ، شرح السنة ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم )

## د حجر الاسود پورته کيدل اسمان ته

عثمان بن ساج وايي ماته له رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) څخه دا خبره را رسيدلې ده چې د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې په آخر وخت کې به حجرالاسود او قرآنکريم اسمان ته پورته شي .

قَالَ عُثْمَان بن ساج : وَبَلَغَنِي عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : أَوَّلُ مَا يُرْفَعُ ، الرُّكْنُ وَالْقُرْآنُ . ( إتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم وأشراط الساعة باب ما جاء في رفع الحجر الأسود )

لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُرْفَعَ الرُّكْنُ وَالْقُرْآنُ .

( جامع الاحاديث رقم الحديث ١۶٨٣۵ ، الجامع الصغير من حديث البشير النذير ، كنز العمال في سنن الاقوال والافعال ، جمع الجوامع )

## په ښکاره د ورځې په لاره کې زنا کول

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې ښځه به د عامې لارې ( سرک ) په مينځ کې زنا کوي ، هيڅوک به يې نشي منع کولاي ، که څوک ورته ووايي چې کاش د لارې له مينځ څخه يو طرف ته شوي وای بيا چې هر څه کوی ، نو ددې سړي به دومره قوي ايمان وي لکه د ابوبکر صديق او د عمر ( رضي الله عنهما ) .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الأَرْضِ أَحَدٌ لِلَّهِ فِيهِ حَاجَةٌ ، وَحَتَّى تُوجَدَ الْمَرْأَةُ نَهَارًا جِهَارًا تُنْكَحُ وَسَطَ الطَّرِيقِ ، لاَ يُنْكِرُ ذَلِكَ أَحَدٌ وَلاَ يُغَيِّرَهُ ، فَيَكُونُ أَمْثَلَهُمْ يَوْمَئِذٍ الَّذِي يَقُولُ : لَوْ نَحَّيْتَهَا عَنِ الطَّرِيقِ قَلِيلاً ، فَذَاكَ فِيهِمْ مِثْلُ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ فِيكُمْ. ( المستدرک علی الصحيحين كتاب الفتن والملاحم رقم الحديث ۸۵۱۶ ، جامع الأحاديث ، اتحاف الجماعة في الفتن والملاحم ، جمع الجوامع ،كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال )

قلت: له شواهد مما تقدم وما يأتي. وأيضًا فقد ظهر مصداقه في بعض المدن الإفرنجية؛ فقد ذكر لنا أن المرأة هناك تنكح في وسط الطريق برضاها، ولا ينكر ذلك أحد، ولو أنكره منكر؛ لبادروا إلى عقوبته، وهذا مما يدل على أن للحديث أصلًا، وليس بخرافة.

فَنَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تَدْرِكَنَا وَإِيَّاكُمْ تِلْكَ الأَيَّامُ

## په لارو او کوڅو کې خلک يو په بل سوريدل ( سپريدل )

له حضرت عبدالله ابن عمرو ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايلي دي : د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې خلک به په لارو او کوڅو کې يو پر بل داسې سوريږي ( سپريږي ) لکه څنګه چې خره په يو بل سوريږي ( سپريږي ) . نعوذبالله

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن عمرو رَضِيَ الله عَنْهما قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَتَسَافَدُوا فِي الطَّرِيقِ تَسَافُدَ الْحَمِيرِ ، قُلْتُ : إِنَّ ذَلِكَ لَكَائِنٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ لَيَكُونَنَّ . (صحيح ابن حبان مع حواشي الأرناؤوط باب ذكر الإخبار عن ظهور الزنى وكثرة الجهر به في آخر الزمان رقم الحديث ۶۷۶۷ )

فَنَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تَدْرِكَنَا وَإِيَّاكُمْ تِلْكَ الأَيَّامُ

# د کعبې نړیدل (ورانیدل ) د حبشي په لاس

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روایت دی چې پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) و فرمایل : یو سړی چې نری- نری- پښې به یې وي د حبشې ( ایتوپیا ، افریقایي هیواد ) څخه به وي او کعبه به ورانوي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنْ الْحَبَشَةِ

( صحيح البخاري بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ رقم الحديث ١٤٨٨ )

په بل حديث شريف کې راځي: په دې وخت کې به عرب وژل شوي وي چې وروسته به حبشیان افریقایان راځي او کعبه به داسې خرابه کړي چې بیا به هیڅکله هم جوړه نشي . د کعبې لاندې چې کومه د سرو زرو خزانه ده هغه به را وباسي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ ، وَيَسْلُبُهَا حِلْيَتَهَا ، وَيُجَرِّدُهَا مِنْ كِسْوَتِهَا ، وَلَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ أُصَيْلِعَ أُفَيْدِعَ ، يَضْرِبُ عَلَيْهَا بِمِسْحَاتِهِ وَمِعْوَلِهِ.

( مسند امام احمد ابن حنبل واللفظ له رقم الحديث ٧٠٥٢ ، كنز العمال في سنن الاقوال والافعال ، المسند الجامع ، اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم ، جامع الأحاديث ، غاية المقصد في زوائد المسند ، جمع الجوامع )

رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایي لکه هغه سړی چې اوس زه وینم هغه سړی چې نری- نری- پښې او کاږه هډوکي او په خپل کلنګ باندې کعبه مبارکه ورانوي.

که څوک وواییي چې دا خو له دې آیت سره ضد دی چې الله ( جل جلاله ) فرمایي : اَوَلَمْ يرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا . ( ٢١ پاره - سورة عنكبوت - آیت ٦٧ )

**ترجمه** : ایا نګوری چې دا مکه مکرمه حرم أمن مونږ ګرځولي دي ؟

نو ځواب دا دی چې دا به په هغه وخت کې وي چې په هغه وخت کې به مسلمانان نه وي او مسلمانان به وژل شوي وي .

# له عدن ښار څخه اور را وتل

له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) روايت دی چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمايلي دي : له قيامت څخه مخکې به یو اور را وځي .
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَخْرُجَ نَارٌ . ( صحيح البخاري باب خروج النار رقم الحديث ۶۵۸۵ ، صحيح مسلم )
دا اور به له مشرق څخه خلک مغرب طرفته را ټولوي . چې د یمن له هیواد څخه به راوځي . او ټولې دونیا څخه به خلک شام ته راټولوي . هر چیرته چې خلک دمه کوي اور به هم ورسره ولاړ وي او که خلک روان وي اور به هم ورسره روان وي . سبحان الله ، که خلک چیرته شپه کوي نو اور به هم شپه ورسره کوي :
عَنْ اَبِيْ هُرَيرَةَ رض عَنِ النَّبِيْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يحْشَرُ النَّاسُ عَلَي ثَلَاثِ طَرَائِقَ ، رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ وَ اِثْنَانِ عَلَي بَعِيرٍ ، وَ ثَلَاثَةٌ عَلَي بَعِيرٍ ، وَ اَرْبَعَةٌ عَلَي بَعِيرٍ ، وَ عَشَرَةٌ عَلَي بَعِيرٍ وَ يحْشُرُ بَقِيتَهُمُ النَّارُ ، تَقِيلُ مَعَهُمْ حَيثُ قَالُوْا ، وَ تَبِيتُ مَعَهُمْ حَيثُ بَاتُوْا ، وَ تُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيثُ أَصْبَحُوْا ، وَ تُمْسِيْ مَعَهُمْ حَيثُ أَمْسَوْا .
( صحيح البخاري كتاب الرقاق باب كيف الحشر رقم الحديث ۶۵۲۲ ، صحيح ابن حبان )
عبدالله ابن عمر ( رضي الله عنهما ) وايي چې مونږ پيغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) ته وويل چې که دا اور مونږ وويني نو ته مونږ ته څه لارښونه کوې ؟؟؟
پيغمبر( صلی الله علیه وسلم ) وفرمايل : د شام طرف ته لاړ شئ : عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ اَبِيهِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : سَتَخْرُجُ نَارٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ أَوْ مِنْ نَحْوِ حَضْرَمَوْتَ قَبْلَ يوْمِ الْقِيامَةِ تَحْشُرُ النَّاسَ ؛ قَالُوْا يا رَسُوْلَ اللهِ فَمَا تَأْمُرُنَا ؟؟؟ قَالَ : عَلَيكُمْ بِالشَّامِ . ( سنن الترمذي باب ما جاء لاتقوم الساعة حتي تخرج نار من قبل الحجاز ۲۳۷۸ )
خو دا حشر دنيوي ( ددې دونيا ) حشر دی چې په دونيا کې کيږي او دا د آخرت حشر ( د خلکو راټوليدل يوه ځای ته ) ندی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى ثَلاَثِ طَرَائِقَ رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ وَثَلاَثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَتَحْشُرُ بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ تَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا وَتَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا . ( صحيح مسلم باب فناء الدنيا وبيان الحشر يوم القيامة رقم الحديث ٧٣٨١ )

نو دلته هم په حديث کې راغلي چې خلک به په داسې حال کې حشر کيږي چې په اوښانو به سپاره وي نو له دې معلوميږي چې دا د دونيا حشر ده ځکه په اخرت کې اوښان نشته ، بله خبره دا چې په حديث کې وويل شول چې خلک چې چيرته شپه کوي نو اور به هم شپه ور سره کوي نو له دې هم معلوميږي چې دا د دونيا حشر ده ځکه په اخرت کې شپه نشته .

نو دلته هم معلوم شو چې دا اور د قيامت څخه مخکې ده او دا حشر د دونيا حشر ده .

او په يو حديث کې هم د شپيلۍ يادونه نده شوې او حال داچې د قيامت حشر به د اولې شپيلۍ څخه وروسته وي

او بله خبره دا چې له دې څخه هم معلوميږي چې دا د اخرت حشر نده ځکه چې په دې حشر کې به خلک جامې ( کالي ) لري او خوراک ، څښاک ، خوب به کوي ، په اوښانو او پياده به روان وي :

فوج طاعمين كاسين راكبين موافق لقوله راغبين راهبين وقوله وفوج يمشون موافق للصنف الذين يتعاقبون على البعير فإن صفة المشي لازمة لهم

( فتح الباري لابن حجر باب الحشر رقم الحديث ٦١٥٧)

او په آخرت کې چې خلک حشر کيږي نو خلک به لوڅ ( بربنډ ) وي ، خوراک ، څښاک ، خوب ، او په اوښان باندې تلل نشته . لکه څنګه چې د عبدالله ابن عباس ( رضي الله عنهما ) څخه روايت دی چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ

الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً كَمَا خُلِقُوا ثُمَّ قَرَأَ (كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ) ( سنن الترمذي باب ما جاء في شأن الحشر رقم الحديث ۲۶۰۹ )

قاضي عياض ( رحمه الله ) وايې چې دا حشر به د اولې شپيلۍ ( پوکي ) او د قيامت څخه لږ مخکې وي : قال القاضي عياض (أبو الفضل ؛ عياض بن موسى بن عياض بن عمرون اليحصبي السبتي،: عالم المغرب وإمام أهل الحديث في وقته ) هَذَا الْمَحْشَر فِي الدُّنْيَا قَبْل قِيَام السَّاعَة وَهُوَ آخِر أَشْرَاطهَا وَيَدُلّ عَلَى أَنَّهُ قَبْل يَوْم الْقِيَامَة قَوْله ( وَتُحْشَر بَقِيَّتهمْ النَّار تَقِيل مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا وَتَبِيت مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا وَتُصْبِح مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا )

او په صحيح مسلم کې راغلي دي چې آخره نښه ( علامه ) د قيامت د راتلو اور دى چې له عدن درياب ( بحر ) څخه به را وځي او خلک به حشر کوي .

وَفِي حَدِيث مُسْلِم فِي أَشْرَاط السَّاعَة وَآخِر ذَلِكَ نَار تَخْرُج مِنْ قَعْر عَدَن تُرَحِّل النَّاس وَفِي رِوَايَة تَطْرُد النَّاس إِلَى مَحْشَرهمْ وَفِي حَدِيث آخَر لَا تَقُوم السَّاعَة حَتَّى تَخْرُج النَّار مِنْ أَرْض الْحِجَاز . ( شرح السيوطي لسنن النسائي كتاب قيام الليل و تطوع النهار رقم الحديث ۲۰۸۵ )

**قيامت به د ورځې قايمږي** : عن أبي هريرة رضي الله عنه: لا تقوم الساعة إلا نهارا . (كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال ، جامع الاحاديث ، الفردوس بمأثور الخطاب )

**ترجمه** : له حضرت ابوهريرة ( رضي الله عنه ) څخه روايت دى چې قيامت به د ورځې راځي .

د قيامت ورځ دومره هيبتناکه او سخته ورځ ده چې خلک به بيسد ( نشه )ښکاري مګر نشه به نه وي لکن د الله ( جل جلاله ) عذاب او د قيامت د ورځي د هيبت څخه به داسي ښکاري.

**قيامت به د جمعې په ورځ وي** : تقوم الساعة يوم الجمعة، وليس بهيمة إلا وهي رافعة رأسها يوم الجمعة تشفق من الساعة حتى تغيب الشمس.( كنزالعمال في سنن الاقوال والافعال )

**ترجمه** : قیامت د جمعې په ورځ ده . هر ځناور د جمعې په ورځ اسمان طرف ته له سهاره تر مابنامه ګوري او وايي هسې نه چې نن قیامت نشي .

کله چې ځمکه وخوځولې شي په سختو خوځولو سره ، او ځمکه خپل ټول پیټي راوباسي او دباندې بې را وغورځوي ،او منکر انسان به ووايي چې په دې ځمکه باندې څه شوي دي ، د قیامت په ورځ به خلک تیت او پرک وي تر څو خپل اعمال ورته وښودل شي ، چا چې یوه زره نیک عمل کړي وي هم وبه يې ويني ، او چا چې یوه زره بد عمل کړي وي هم وبه يې ګوري.

د قیامت په ورځ به خلک د خپارو ورو پتنګانو په شان وي او غرونه به د نداف شوې وړۍ په شان وي ، د قیامت په ورځ به هغه څوک کامیاب وي چې د نیکو اعمالو وزن يې زیات شي ، او د چا چې د بدو اعمالو وزن زیات شي هغه به دوزخ (جهنم ) ته ځي.

د قیامت په ورځ به ټول واک او قدرت له الله ( جل جلاله ) سره وي ، هیڅوک به د چا سفارش نشي کولای مګر د الله ( جل جلاله ) په اجازې سره به سفارش کوي ، بعضې خلک وايي چې زما دوه یا درې اولادونه په ماشومتوب کې مړه شوي دي نو زه خو هسې هم دوزخ ته نه ځم ، ځکه زما سفارش کوي او ما دوزخ ته نه پرېږدي ، نو هر رنګ ګناهونه کوي ، مګر د دوي دا فکر او سوچ ډیر غلط دی ځکه چې که د الله ( جل جلاله ) خوښه شي نو دده واړه ماشوم ته به د سفارش اجازه ورکړي او که د الله ( جل جلاله ) خوښه نشي دده وړوکي ماشوم څوی دده سفارش نشي کولای او دی به د خپلو ګناهونو په وجه دوزخ ته ځي ، اګر که دده واړه ماشومان اولادونه وفات شوي وي لیکن بیا به هم دوزخ ته ځي.

یا بعضې خلک وايي چې زما پلار یا ورور شهید شوی دی نو زمونږ سفارش خو کوي .

نه ، داسې نده که همغه شهید ته الله متعال د سفارش اجازه ورنکړي نو سفارش نشي کولای .

د قیامت په ورځ به د انسانانو په ژبه مُهر ولګول شي ، لاسونه او پښې به یې خبرې کوي ، الله متعال فرمایي چې أئ د آدم ( علیه السلام ) اولاده ما تاسو ته نه وو ویلي چې د شیطان خبره مه منئ ځکه شیطان ستاسو ښکاره دښمن دی .
د قیامت په ورځ به هیڅ یو خپلوان چاته فایده نشي رسولاي او نه به چا سره له کوم طرف څخه د عذاب څخه په خلاصیدو کې مرسته وکړل شي .
ډیر خلک ګناهونه کوي او بیا وایي چې الله ( جل جلاله ) غفور رحیم ده بښنه به راته وکړي مګر دې خبرې ته یې فکر نه دی چې د قیامت په ورځ به الله ( جل جلاله ) په غصه وي او خپل قهار صفت به ظاهر کړي.
حضرت ابوهریرة ( رضي الله عنه ) وایي چې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) یوه ورځ وفرمایل ... د قیامت په ورځ به خلک د حشر په میدان کې ډیر په تکلیف کې وي خلک به یو بل ته وایي چې راځئ چې کوم پیغمبر ته ورشو چې الله ( جل جلاله ) ته ووایي چې مونږ سره حساب او کتاب شروع کړي نو خلک به راشي ادم ( علیه السلام ) ته به وایي چې ته خو الله ( جل جلاله ) په خپل لاس ( بلا کیف ) جوړ کړی یې او ملایکو د تعظیم سجده درته کړې ده زمونږ حال وینې نو الله ( جل جلاله ) ته سفارش وکړه چې مونږ سره حساب شروع کړي ، حضرت آدم ( علیه السلام ) به ورته ووایي چې الله ( جل جلاله ) نن ډیر په غوصه ده ، زه دا کار نشم کولای لاړ شی نوح ( علیه السلام ) ته ، خلک به نوح ( علیه السلام ) ته راشي ، نوح ( علیه السلام ) به هم ورته ووایي چې زه دا کار نشم کولای تاسو ابراهیم ( علیه السلام ) ته ورشئ ، خلک به ابراهیم ( علیه السلام ) ته ورشي ، ابراهیم ( علیه السلام ) به هم ورته ووایي چې نن الله ( جل جلاله ) ډیر په غوصه دی زه سفارش نشم کولای تاسو موسی ( علیه السلام ) ته ورشئ هغه به مو سفارش وکړي ،خلک به موسی ( علیه السلام ) ته ورشي ، موسی ( علیه السلام ) به هم ورته ووایي چې نن الله ( جل جلاله ) ډیر په غوصه دی زه ستاسو سفارش نشم کولای تاسو عیسی ( علیه السلام ) ته ورشئ کیدای شي هغه مو سفارش وکړي . خلک به عیسی ( علیه السلام ) ته ورشي هغه به هم ورته ووایي چې زه

مو سفارش نشم کولای تاسو لاړ شئ حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) ته هغه به مو سفارش وکړي ، رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمايي : خلک به ماته راشي چې زمونږ سفارش وکړه ، نو زه به د عرش لاندې سر په سجده کيږدم او د الله ( جل جلاله ) حمد او ستاينه به وکړم ) ... الله ( جل جلاله ) به راته ووايي ، ای محمد سر پورته کړه څه غواړې ، هر څه چې وايي خبره دې منم ، وايه څه وايي ؟؟؟ رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمايي : بيا به زه د خلکو سفارش وکړم . (صحيح مسلم )

## د جنت صفت :

رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) فرمايي : الله ( جل جلاله ) وايي چې په جنت کې ما خپلو صالحو بنده ګانو ته داسې شيان تيار کړي چې نه انسان ليدلي او نه يې په غوږو اوريدلي او نه يې په زړه کې تير شوي دي . جنت د خوشحالی ځای دی .
جنت د ښکلو او پاکو ميوو ، قصرونو او چمنونو ځای دی ، جنت کې د هيچا زړه نه تنګيږي ، جنت کې تکليف نشته ، جنت کې عبادت نشته ، جنت کې يواځې خوندونه او مزې دي ، جنت کې ښايسته بازارونه دي ، جنت کې شات ، پاک شراب ، شيدې او خالصې مزه دارې اوبه دي چې هغسې اوبه چا ندي څښلي .

## د دوزخ صفت :

دوزخ د تکليفونو ځای دي ، دوزخ کې ټول غمونه او فريادونه دي ، دوزخ دکافرانو او ګناهګارانو ځای دی ، د دوزخ اور د دونيا له اور څخه ۶۹ ځلې ګرم او سوزونکي دی .
الله ( جل جلاله ) دې مونږ په خپل فضل او کرم سره د دوزخ له اور څخه وساتي .
آمين

# ماخذ

القسم : متون الحديث

**صحيح البخاري** : ابو عبدالله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة البخاري الجعفي

**صحيح مسلم** : ابو الحسين مسلم ابن الحجاج بن مسلم بن ورد القشيري النيسابوري

**سنن النَسائي** : أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي

**سنن ابي داود** : ابوداود سليمان ابن اشعث بن اسحاق بن بشير الأزدي السجستاني البستي الافغاني

**سنن الترمذي** : أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي

**سنن ابن ماجة** : أبوعبد الله محمد بن يزيد ( ماجة ) القزويني

**سنن الدارمي** : أبو محمد، عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام الدارمي، التميمي، السمرقندي

**المستدرک على الصحيحين** : أبوعبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم. الإمام، الحافظ، الناقد، العلامة، شيخ المحدثين

**مسند امام احمد** : أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني. الفقيه والمحدث، صاحب المنهب.

**شعب الايمان** : أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى : ٤٥٨هـ)

**مسند الطيالسي** : سليمان بن داود أبو داود الفارسي البصري الطيالسي

**شرح السنة** : أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء، البغوي الشافعي

**مسند اسحاق بن راهويه** : إسحاق بن إبراهيم بن مخلد بن راهويه الحنظلي

**مسند الروياني** : محمد بن هارون الروياني أبو بكر

**مسند البزار** : الإِمَامُ، الحَافِظُ الكَبِيْرُ، أَبُو بَكْرٍ أَحْمَد بن عَمْرِو بنِ عَبْدِ الخَالِقِ البَصْرِيُّ، البَزَّارُ،

**صحيح ابن حبان** : أبو حاتم، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي،

**مُصنف ابن ابي شيبة** : أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة العبسي الكوفي

**الاحاد والمثاني** : أبو بكر أحمد بن عمرو بن الضحاك الشيباني

**الاحكام الشرعية الكبرى** : أبو محمد عبد الحق بن عبد الرحمن بن عبد الله الازدي الاشبيلي، المعروف بابن الخراط. من علماء الاندلس.

**الرد على الجهمية** : أبو سعيد عثمان بن سعيد بن خالد الدارمي السجستاني، محدث هراة.

**المعجم الصغير** : أبو القاسم سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي،

**المعجم الكبير** : أبو القاسم سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي،

**دلايل النبوة للبيهقي** : أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، البيهقي الشافعي

**معجم ابن الاعرابي** : أبو سعيد أحمد بن محمد بن زياد المعروف بابن الأعرابي

**المجالسة وجواهر العلم** : أبو بكر أحمد بن مروان الدينوري المالكي

**اخبار مكة في قديم الدهر وحديثه** : أبو عبد الله محمد بن إسحاق بن العباس المكي الفاكهي

**القسم : الاجزاء الحديثية**

**الفتن للمروزي** : أبو عبد الله نعيم بن حماد بن معاوية بن الحارث الخزاعي المروزي،

**عقد الدرر في اخبار المنتظر** : يوسف بن يحيى بن علي المقدسي الشافعي السلمي

**القسم : كتب التخريج والزوائد**

**جامع الاحاديث** : حافظ جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر بن محمد بن سابق الدين السيوطي المصري

**كنز العمال في سنن الاقوال والافعال** : علاء الدين علي بن حسام الدين المتقي الهندي البرهان فوري (المتوفى : ٩٧٥هـ)

**احاديث في الفتن والحوادث** : محمد بن عبد الوهاب

**جامع الاصول في احاديث الرسول** : ابن الاثير ، مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الشيباني الجزري

**جمع الجوامع** : حافظ جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر بن محمد بن سابق الدين السيوطي المصري

**مجمع الزوائد ومنبع الفوائد** : أبو الحسن، نور الدين، علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي، المصري القاهري

**اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم واشراط الساعة** : الشيخ حمود بن عبد الله بن حمود بن عبد الرحمن التويجري من آل جبَّارة

**غاية المقصد فى زوائد المسند** : للحافظ علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي

**المسند الجامع** : أبي الفضل السيد أبو المعاطي النوري

**الفردوس بماثور الخطاب** : أبو شجاع شيرويه بن شهردار بن شيرويه الديلمي الهمذاني الملقب إلكيا

**القسم : شروح الحديث**

**عون المعبود شرح سنن ابي داود** : أبو الطيب محمد شمس الحق العظيم آبادي

**معالم السنن شرح سنن ابي داود** : أبو سليمان أحمد بن محمد الخطابي البستي

**شرح السيوطي لسنن النسائي** : حافظ جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر بن محمد بن سابق الدين السيوطي المصري

**مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح** : الملا علي القاري ، علي بن (سلطان) محمد، نور الدين الملا الهروي القاري فقيه حنفي، من صدور العلم في عصره.

**فتح الباري شرح صحيح البخاري** : أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي

**عمدة القاري شرح صحيح البخاري** : بدر الدين العيني الحنفي

**شرح الزرقاني على موطا الامام مالک** : محمد بن عبد الباقي بن يوسف الزرقاني

**تحفة الاحوذي بشرح جامع الترمذي** : أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفوري

القسم : مصطلح الحديث

**التقريب والتيسير لمعرفة سنن البشير النذير في اصول الحديث** : محيي الدين أبو زكريا يحيى بن شرف الحوراني الشافعي النووي

**القسم : التفاسير**

**جامع البيان في تاويل القران ( تفسير الطبري)** : محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري،

**الجامع لاحكام القران ( تفسير القرطبى )** : أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ٦٧١ هـ)

**روح المعاني في تفسير القران العظيم والسبع المثاني** : شهاب الدين محمود ابن عبد الله الحسيني الآلوسي

**القسم : العقيدة**

**لوامع الانوار البهية وسواطع الاسرار الاثرية لشرح الدرة المضية في عقد الفرقة المرضية** : شمس الدين، أبو العون محمد بن أحمد بن سالم السفاريني الحنبلي

**حاشية الدرة المضية في عقد الفرقة المرضية** : العالم الأوحد الشيخ محمد بن أحمد بن سالم السفاريني النابلسي الحنبلي رحمه الله

القسم : التاريخ

**النهاية في الفتن والملاحم** : حافظ عماد الدين ابو الفداء اسماعيل ابن عمر ابن كثير القرشي الدمشقي

**النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة** : أبو المحاسن، يوسف بن تغري بردي بن عبد الله الظاهري الحنفي، المصري

**تاريخ اليمن** : عبد الله بن علي بن محمد بن عبد الإله بن أحمد بن الوزير الصنعاني

**تاريخ الخلفاء** : حافظ جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر بن محمد بن سابق الدين السيوطي المصري

القسم : الغريب والمعاجم ولغة الفقه

**القاموس المحيط** : محمد بن يعقوب الفيروزآبادي

**لسان العرب** : أبو الفضل، محمد بن مكرم بن على، جمال الدين ابن منظور الانصاري الرويفعى الأفريقي المصري

القسم : البلدان والجغرافيا

**المسالک و الممالک** : أبو بكر (المشهور بالبكري) بن محمد شطا الدمياطي

**اثار البلاد واخبار العباد** : زكريا بن محمد بن محمود القزويني

**اسعاد الاخصّا بذكر صحيح فضائل الشام والمسجد الاقصى** : أبي عبد الرحمن السلفي المقدسي وهشام بن فهمي بن موسى العارف

إنَّ الشكر لله ( عزّ وجل ) أولاً وآخراً ، فله الحمد كلُّه، وله الشكر كلُّه ، لا نحصي نعمه ، ولا نحصى ثناء عليه ، ما أراده كان ، وما لم يرده غير كائن ، خلق الإنسان من عدم ، وعلّمه ما لم يعلم ، وأسبغ عليه نعمه ظاهرة وباطنة ، فله الحمد والمنَّة.

فسبحان الذي بعث الينا رسولا انبهنا بعلامات الساعة ، عليه افضل الصلاة والسلام بعدد ما في علم الله العليم الواحد القهار الى يوم الدين ، امنت به و بما انزل عليه ، اشكر ولا اكفر ، وأشهد اللهَ على ما اقول .


وفي ختام هذه الرسالة ؛ أحمد الله تعالى الذي من علي بجمع هذه الرسالة وإتمامها، وأسأله ـ تعالى ـ أن يجعلها عملا مقبولا لديه؛ إذ كان الغرض منه بيان علاماة الساعة ، وأن يعفو عني ما قد يكون فيها من الزلل فهو أهل ذلك سبحانه، فإن كنت أصبت فمنه تعالى وحده، وإن كنت قد أخطأت فمن نفسي والشيطان ، والله ورسوله بريء منه ، وحسبي أني بذلت جهدي.

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ
اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

زاهدالله عزام عَفاالله عَنه

# د لیکوال اثار














PRINTING PRESS